EUROPEAN UNION

 څېړنې د ښه افغانستان لپاره
AREU



# ولاړې اوبه ژورې ځي:

## د کوکنارو ناقانونه کښت او د سویل لویدیز افغانستان د دښتو بدلون

ډیوید منسفیلد

د ۱۳۹۷ کال د چنګاښ میاشت

د افغانستان د څیړنې او ارزونې اداره
موضوعي خپرونه

# ولاړې او به ژوري ځي:
## د کوکنارو ناقانونه کښت او د سویل لویدیز افغانستان د دښتو بدلون

ډیوېډ منسفیلد

د ۱۳۹۷ کال د چنګاښ میاښت

دا څیړنه د اروپایې ټولنې په مالي مرسته تر سره شوې ده

هغه نظریات چې په دغه څېړنه کې وړاندې شوي په لیکوال پورې اړه لري او د افغانستان د څېړنې او ارزونې ادارې د نظریاتو منعکس کونکې ندی.

ISBN: ۹۷۸-۹۹۳۶-۶۴۱-۰۷-۵

د پوښ انځور: د هلمند د ولایت د بغرا په شمال کې د اوبو یوه زیرمه چې د لمریزې برېښنا له لیارې د ځمکې د اوبو لګولو لپاره کارول کیږي.

انځورونه: Alcis،OSDR، ډیوید منسفیلډ

بڼه ورکونکې: سیر علمیار

ژباړه: کاظم ملوان

د AREU د خپرونې (کود ) علامه: ۱۸۰۸P

©۱۳۹۷ د افغانستان د څېړنې او ارزونې اداره

دغه خپرونه یوازې د غیر سوداګریزو موخو لپاره کېدای شي نقل ،وینا ، ذکر یا بیا چاپ شي، په دې شرط چې لیکوال او منبع یې خبر شي. په دې خپرونه کې ځای شوي نظرونه لیکوال پورې اړه لري او په حتمي ډول د AREU یا د اروپایي ټولنې نظرونه نه منعکس کوي. ځینې حقونه خوندي دي.

که چېرې دغه خپرونه په برېښنایي ډول چاپ شوې، ذخیره شوې یا لېږدول شوې وي، برېښنایي پته یې باید د AREU ویب پاڼې ته ولېږل شي. (www.areu.org.af). له دغو اجازه لیکونو څخه بهر له دې خپرونې څخه ګټه اخیستل د AREU او د همکارو خپروونکو مخکینۍ لیکلې اجازې ته اړتیا لري. د AREU د برېښنا لیک د پتې له لیارې، areu@areu.org.af یا تیلیفون شمېرې ۰۰۹۳۲۰۲۲۱۲۴۱۵ له لیارې اجازه لیک تر لاسه کېدای شي.

# د افغانستان د څېړنې او ارزونې ادارې (AREU) په اړه

د افغانستان د څېړنې او ارزونې اداره په کابل کې د څېړنې يو خپلواک بنسټ دی چی په ۲۰۰۲ م کال په افغانستان کې د نړیوالی ټولنی له خوا جوړ شو. د افغانستان د څېړنی او ارزونی اداری موخه د شواهدو پر بنسټ د لوړ کیفیت او په پالیسی پوری اړوند څېړنی برابرول او په فعاله توګه د دغو څېړنو د پایلو نشرول او همداسی د شواهدو پر بنسټ د څېړنې او زده کړې د کلتور خپرول دی. د پنسیلوانیا دپوهنتون د راپور پر بنسټ، د افغانستان د څېړنې او ارزونې اداره په افغانستان کی د یوو څېړنیز بنسټ په توګه دلوړ مقام لرونکی دی او په منځنی آسیا کی د څېړنیزو بنسټونو په منځ کی په پنځم کچه کی ځای لری. په همدې ډول، دغه اداره په برېتانیا کې د پروسپیکټ (Prospect Magazine) د مجلې د ۲۰۱۸ کال، د ډېرې ښې نړۍ واله څېړه نیزې ادارې جایزه ګټونکې شوه. د افغانستان دڅېړنې او ارزونې اداره د خپلې موخې دلاسته راوړلو لپاره د پالیسیو جوړونکو، مدني ټولنې، څېړونکو او زده کونکو سره کار کوي چې دوی د افغانستان دڅېړنې او ارزونې اداری لهڅېړنو او کتابتونه کار واخلي او دڅېړنې په برخه کی خپله وړتیا لوړه کړي او د نظریاتو د څرګندولو، د شننو، او بحثونو لپاره لاره هواره کړي. د افغانستان د څېړنی او ارزونی اداره د مشرانو د بورډ لخوا چی د مرستندویه ادارو، سفارتخانو، ملګرو ملتونو، ځینی نوروسازمانونو، مدنی ټولنی او دخپلواکو کارپوهانو استازی په کی شامل دی، اداره کیږی.

**تمویلونکی**:

د دی اداری تمویلونکی د سویدن نړیواله انکشافی اداره (SIDA) او لاندی نور نړیواله بنسټونه دی:

The European Commission (EC), United States Institute of Peace (USIP), Norwegian Institute of International Affairs (NUPI), Overseas Development Institute (ODI-UK), Promundo (US), Sustainable Development Policy Institute (SDPI), Regional Environmental Centre for Central Asia (CAREC), Institute of Development Studies (IDS) and Swiss Agency for Development

and Cooperation(SDC), School of Oriental and African Studies (SOAS), Economic and Social Research Council United Kingdom (ESRC-UK) and the Regional Environmental Centre for Central Asia (CAREC).

همدا راز دا اداره د لاندی نړیوالو بنسټونو غړیتوب هم لری:

Resolve Network, Secure Livelihoods Research Consortium (SLRC), Global Challenges Research Fund (GCRF), A Conflict Sensitive Unpacking of the EU Comprehensive Approach to Conflict and Crisis Mechanism (EUNPACK), ADB-Asian Think Tank Network (ATTN) and The Central Asian Think Tank Network (CTTN).

# د لیکوال په اړه

ډیویډ منسفیلډ د لندن د اقتصاد په پوهنتون کې لوړپوړی ښوونکی دی. نوموړي په افغانستان کې د کلیوال معیشت او د کوکنارو د کرنې په اړه د دوه ویشت پرله پسې فصلونو په اړه څېړنې ترسره کړي دي. ډیویډ منسفیلډ د لندن په پوهنتون کې د ختیځ او افریقا د مطالعاتو له ښوونځیو څخه د پرمختیائی مطالعو په برخه کې د دوکتورا (پي ایچ ډی) درجه ترلاسه کړي ده. نوموړی، د شګو پربنسټ د دولت جوړونې: تریاک څنګه افغانستان کمزوری کوی، د کتاب لیکونکی دی. ډیویډ له ۲۰۰۵ کال څخه را په دې خوا له AREU سره کار کوې.

# مننه

وياړ لرم چې د پاينبت لرونکې پراختيا او څېړنې په اداري (OSDR) او السيس لميتد کې له خپلو همکارانو څخه مننه وکړم چې ددې راپورپه بشپړولو کې ئې ارزښت لرونکې ونډه اخيستې ده.OSDR لا تراوسه د افغانستان په ځينو کليوالو او ډيرو ستونزمنو برخو کې خورا بيساري او کيفيت لرونکې څيړنې ترسره کوي. زه نور داسې څيړونکي نه پيژنم چې په خورا ستونزمنو شرايطو کې د OSDR په شان ژور او کيفيت لرونکي ساحوى کارونه بشپړ او وړاندې کړي.

غواړم يادونه وکړم چې هغه کيفيت لرونکي او دعالي شنن درلودونکى شننو او هغه مالومات چې د مت انجل، تم باکلي، ميد لاين السټن او د ريچارد بريتان په شمول د السيس د ډلې له خوا وړاندې شوي دي، ځانکړي خصوصيات لري. له دغو دوو موسسو سره ګډ کار دا امکان برابروي چې عالي تخيلي شنن به له لوړې پوهې او ژورې څيړنې سره يو ځاى شي نو باوري مالومات او ژوره پوهه به د افغانستان د کليوالي پيچلو کارونو لپاره چمتو شي. خپله دنده ګڼم چې له پاول فيشتين، غلام رسول، سلطان محمد احمدى او دوو نورو کتونکو څخه د دې راپور د پخوانيو مسودو په اړه د هغوى د نظريو ستاينه وکړم. ددې ليکنې د بياکتنې لپاره د هغوى وخت او ژورې نظريې دډيرې ستاينې وړ دي. زه د هرې نيمګړتيا لپاره چې په دې راپور کې شتون لري ښښنه غواړم؛ او هغه يوازې خپل مسئوليت ګڼم.

په همدې توګه د متهيو لانګ مور، توبى ميلر اوسير عالميار څخه د هغوى له نه ستړي کيدونکي کار څخه چې د سمونې، ښه ورکولو او په وروستنۍ ليکنى باندې د زيږې مسودې د بدلون په لار کې ئى ترسره کړى دى، مننه کوم.

# سریزه

دافغانستان د څېړنې او ارزونې اداره(AREU ) زمونږ د طبیعی زیرمو د مدیریت په څېړنه کې د اروپايي ټولنې له دوامداره ملاتړ څخه مننه کوي.

د طالبانو د رژیم له راپرزیدلو څخه وروسته، د افغانستان حکومت او بهرنیو ځواکونو د کوکنارو د زیرمو د ویجاړولو او کرکیلی په وړاندې مبارزه پیل کړي ده ترڅو د جګړه مارو ډلو د ملاتړ جرړی راوباسي او په هیواد کې د مخدره توکو تولید او قاچاق له مینځه ویسي. په هر حال، د سویل لویدیز افغانستان په دښتو کې د کوکنارو کرکیلې په تیرو دوو لسیزو کې د سیمه ایزې کرنې په پراختیا کې مهمه ونډه اخیستې او د کلیوالو خلکو د لاسي مهارتونو له لیارې چې د هرزه بوټو د مینځه وړلو او د چین له هیواد څخه د لمریزې انرژۍ له وارداتي وسیلو څخه په کار اخیستنې سره، د کرنې او اوبو لګولو تخنیکونو وده موندلي ده ، د شګو او کاڼو څخه ډکه ځمکه د مرکزي حکومت له اندړول څخه پرته د سرو زرو په کان بدله کړي ده.

د ډاکتر منسفیلډ لیکنه نه یوازې پر هغو سترو لاس ته راوړنو رڼا اچوي چې په کرنیزه او نوښتیزه ساحه کې لاس ته راغلي او د کوکنارو او تریاکو له کښت پرته لاس ته راتلونکې نه بریښیدله، بلکې په عین حال کې په سیمه ایز اقتصاد او داخلي مهاجرت باندې ممکن اغیزمنتوب هم تر تحلیل لاندې نیسي. برسیره پر دې، کیدای شي چې دا ډول محصول د هر بل قانوني کښت په توګه، په بازار کې د زیاتیدونکې تقاضا او پرله پسې ګټې اخیستنی په پایله کې د خاورې د خرابیدلو سبب شي او د ترځمکې لاندې اوبو د کچې د کمیدلو عوامل برابر کړي او په دې توګه د ځمکې اوږد مهاله پایښت کمزوری شي.

د پام وړ بل عمده ټکی د ځواک په انډول پورې تړاو لری چې د ځمکې په ملکیت پورې اړوند دی: آیا موږ به د ځمکو د یو څو خاوندانو په لاس کې د ډیرو ځمکو د تمرکز او انحصار شاهدان یو چې د سیمه ایز بزګرانو د مزدورۍ د لا ډیر لړوالي څرګندونی وکړي؟ په ډیر احتمال، هو.

د ولاړې اوبه ژوری ځی، لیکنه په سویل لویدیز دښتو کې د کوکنارو او تریاکو د اوسنۍ کرکیلې او همدا ډول د راتلونکی کښت اټکل، وړاندې کوي. دا خورا مهمه لیکنه، د ډاکتر منسفیلډ د نورو لیکنو په شان، په افغانستان کې د ټولینز-سیاسي فعالیت د وړاندوینې لپاره چې د کوکنارو د تولید ، تخنیکونو او بازار سره تړاو لري، د لوستلو وړ ګڼل کیږي، نو ځکه باید د پرمختیائي فعالینو ، مدنې ټولنو او حکومتي ادارو له خوا د پلان جوړولو او د هغوی د راتلونکو هڅو لپاره د پراختیا بنسټیزه پوهه وګڼل شي.



ډاکتر اورځلا نعمت

د افغانستان د څېړنی او ارزونی د اداری رئیسه

# د موضوعاتو لیکلړ


د افغانستان د څېړنې او ارزونې ادارې (AREU) په اړه ..... ب

د لیکوال په اړه ..... ب

مننه ..... ج

سریزه ..... د

لنډیز ..... و

۱. سریزه ..... ۱

۲. څېړندود (میتودولوژي) ..... ۳

۳. په افغانستان کې د تریاکو د کوکنارو د کښت د بدلون بېلګې ..... ۵

۳.۱ د کوکنارو د پراخ کښت را مینځ ته کېدل ..... ۵

۳.۲ د طالبانو په کلونو کې پیاوړتیا ..... ۶

۳.۳ د دولت جوړونې تر پروژې لاندې د کښت پراختیا او بدلون بېلګې ..... ۸

۴. د دښتو په څمکو کې میشتېدل ..... ۱۱

۴.۱ ملاتړ، خرڅلاو او اجاره ..... ۱۱

۴.۲ ارزانه او تکړه مهارت لرونکي کار ته لاس موندنه ..... ۱۳

۵. په ګلانو باندې د دښتو په بدلونو کې د پانګونې ونډه ..... ۱۲

۵.۱ ناقانونه تریاک د پانګونې د سرچینې په توګه ..... ۱۲

۶. پایله ..... ۲۴

د کتابونو لړلیک ..... ۲۵

د غبرګون غوښتنه ..... ۲۷

د AREU نوې خپرونې ..... ۲۸

# لنډيز

د تيرو شوو دوولسيزو په بهير کې د سويل لويديز افغانستان د دښتو په فزيکي او سياسي جغرافيې کې ژور بدلونونه رامينځ ته شوي دي. دا سيمه چې د خړوبو ځمکو په شا او خوا کې موقعيت لري د ۱۹۵۰ او ۱۹۷۰ کلونو په موده کې د افغانستان د دولت له خوا د ميشتيدلو لپاره چمتو شوی ده، او له ۲۰۰۳ کال څخه راهيسی د افغانستان د کرنيزو توليداتو د ټکنالوژيکي بدلونونو لومړنۍ کرښه جوړوي. د نوموړو دښتو لويې برخې چې په پيل کې د ۱۹۹۰ کلونو له وچکالۍ څخه د را تښتيدلو لږ شمير کورنيو له خوا په کوچنيو ميشت ځايونو بدلې شوي وي ، د سيمه ايزو نخبګانو او پر هغو پورې تړلو ټولنو له خوا چې په ګاونډيو کرنيزو ځمکو کې اوسيدل، غصب شوي دي. پر مختللې ټکنالوژۍ ته د لاس موندنې په پايله کې چې په هغو کې ژورې څاګانی او ډيزل پمپونه هم شامل وو ، او همدا راز د ترياکو لوړه بيه، ددې لامل شوه چې وچه ډبريزه ځمکه کرنيزو ځمکو ته بدلون ومومي.

د پخوانيو دښتو د ځمکو د پراختيا او ناوړه ګټې اخيستنې لپاره په ۲۰۰۸ کال کې هغه وخت لا ډيره زمينه برابره شوه، چې د افغانستان دولت – د بهرنيو ځواکونو په مرسته – کليوال خلک دې ته اړ کړل چې په لاسرسۍ وړ خړوبو ځمکو کې د کوکنارو له کښت څخه لاس واخلي. د مخدره توکو پر ضد دغو هڅو د هلمند ، فراه او کندهار په ولايت کې د لږ ځمکو بې وزلو خاوندانو ته نورې لارې پرې نه ښودې، او اړ شول چې د نوي ژوند لپاره د دښتو پخوانيو سيمو ته مخه کړي. دهغو کسانو لپاره چې په پخوانيو دښتو کې د ځمکو خاوندان وو ، دغه نسبي ارزانه کار چې د کوکنارو په توليد کې ئې غښتلتيا درلوده، ښه وخت برابر کړ چې د کوکنارو کښت ته لا ډيره وده ورکړي، او په دې توګه خپلې کرنيزې سيمې پراخې کړي او د خپل ملکيت اقتصادي ارزښت ته لوړتيا ورکړي.

د ۲۰۱۰ او ۲۰۱۴ کلونو ترمينځ د ټيټو حاصلاتو ، او بدليدونکو بيو سره سره، د پخوانيو دښتو د سيمې بزګرانو هڅه وکړه چې د نوښتونو او چينائي وارداتي لمريزې ټکنالوژۍ څخه د ګټې اخيستنې له لیارې د ترياکو د توليد بيه راټيټه کړي او تر کرنې لاندې ځمکې سيمه لا ډيره پراخه کړي. ددې ليکنې له استدلال سره سم، بايد د پخوانيو دښتو سيمو ته د جلا او ليرو ځمکو په سترګه ؤنه کتل شي، بلکې د نړيوال اقتصادي سيستم د ودې د نه جلا کيدونکي ماشين په توګه وګڼل شي؛ دا هغه سيمې دي چې ټکنالوژۍ او متشبث نفوس ته د ښې لاس موندنې له لیارې ئې بدلون موندلی او له هغو فرصتونو څخه ئې پوره ګټه اخيستي ده چې د ترياکو توليد ئی وړاندې کوي.

# ۱. سریزه


د افغانستان سویل لویدیزو دښتو په وروستیو دوو لسیزو کې ډیر بدلون موندلی دی. هغه سیمې چې پخوا د میشت وړ نه وي او د۲۱ مې پیړۍ په پیل کې لوڅه او بربنډه ځمکه ګڼل کیدله په ۲۰۱۲ کال کې د ۲،۲ ملیونو وګړو میشت ځای شمیرل کیږي.[۱] ددې ترڅنګ، دغه سرحدي سیمه د هلمند او فراه له سیندونو او د هغه کانال له سیستم څخه اخوا موقعیت لري چې د افغانستان دولت د مالیې ورکولو وړ کرنیزو سیمو د پراختیا لپاره جوړه کړې وه. په هر حال، په دی سیمه کې په ۲۰۱۲ کال کې **۴۷۲۸۳۸** هکتاره کرنیزې ځمکې شتون درلود ، په داسې حال کې چې په **۲۰۰۸** کال کې **۲۵۴۸۲۲** او په **۲۰۰۳** کال کې یوازې **۱۴۳۰۲۰** هکتاره ځمکه موجوده وه. (لومړی شکل وګورئ). دا پراختیا د دولتي مداخلو یا بسپنه ورکوونکو پروژو له لیارې رامینځ ته شوې نه ده چې په تیرو وختونو کې د اوبو لګولو د لویو کارونو لپاره ترسره شوې وې. په حقیقت کې نوموړې پراختیا د هغو کورنیو د کار پایله ده چې د هغو ځمکو د غصب او پیرودلو له لیارې رامینځ ته شوي دي چې یو وخت د «دولتي ځمکو»[۲] په نامه یادیدلې او وروسته په هغو کې د نوي تکنولوژۍ پانکه اچونه ترسره شوی ده. د وخت په تیریدو ، او لا ډیرې ناوړه ګټې اخیستنې سره، ددغو پخوانیو دښتو په سیمه کې ټولنې جوړې شوې، او کیدای شي چې وروسته د ځمکې د مالکیت ښکاره ډولونه، او د مالیاتو او حکومتولی سیستم رامینځ ته شي . دا ټول په هغو سیمو کې ترلاسه شول چې ۲۰ کاله پخوا پرته له شګو او ډبرو څخه هیڅ شي نه وو ، او افغان دولت رسمی شتون نه درلود.

دا لیکنه هغه څه ته کتنه کوي چې په دې پخوانیو دښتو کې یی د میشتوالي او بدلون لاملونه برابر کړي دي او دا خبره څرګندوي چې که چیرې د تریاکو او کوکنارو ناقانونه کښت شتون نه درلودای، نو دا پرمختیاوي به واقع شوي نه وای. دغه لیکنه په نورو پنځو برخو ویشل شوي ده. دویمه برخه د څیړندود (میتودولوژۍ) هغه غټ ټکي څرګندوي چې په تیره بیا په لیري او ناخوندي ځایونو کې د ناقانونه اقتصاد د مطالعې (کتنې) لپاره ارزښت لرونکی او غښتلي بنسټونه ښیي. دریمه برخه دا خبره جوتوي چې په افغانستان کې د تریاکو او کوکنارو د کرکیلې جغرافیائي ویش څنګه رامینځ ته شوي، څنګه پیاوړی شوی او څنکه د دولت جوړونې او له مخدره توکو سره د مبارزې له هڅو سره تړون لري. څلورمه برخه د سویل لویدیز په پخوانیو دښتو کې د میشت کیدلو پر موضوع تمرکز لري. دا برخه د سیمه ایز تحلیل او کورنیو مرکو له پایلو څخه ګټه پورته کوي چې د هلمند او بکوا په پخوانیو دښتو کې د میشتیدلو د مختلفو بیلګو او ښکیلو ټولنیزو اقتصادي ډلو نقشه جوړه کړي. پنځمه برخه په پانګونې کې د سرچینې او هڅونې په توګه د تریاکو ونډه ترڅیړنې لاندې نیسي او دا موضوع څرګندوي چې بزګرانو څرنګه د تولید له لوړې بیې، لږ حاصلاتو او د اوبو د کچې د ټیټوالي او د دښتو له پایښت لرونکو ستونزو سره سمبالښت او سمون پیدا کړی ده. شپږمه برخه پایله اخلي چې په داسې حال کې چې تریاک او کوکنار د پخوانیو دښتو په سیمو کې د کلیوال نفوس لپاره د ژوند د وسیلې په توګه کار ورکړی دی، کیدای شي چې د لمریزې انرژۍ او په کیمیاوي توګه د هرزه بوټو چټک له مینځه وړل به د کرنیز تولید اوږد مهاله پایښت تر ګواښ لاندې ونیسي.

۱ دا شمیره چې ددې لیکنې لپاره په ساحوي کار کې تر لاسه شوي لږ تر لږه په هر جریب کې د وګړو د تراکم کچه ۹۱ ،۰ او **۵۱**،۰ ښیي.

۲ په افغانستان کې ټولې ځمکې دولتی ګڼل کیږي مګر دا چې بل ډول پیژندل شوي وي.

لومړی شکل: د سویل لویدیز په دښتو کې له کرنیز تولید لاندې ځمکو پراختیا ۲۰۰۳-۲۰۱۶



# ۲. څېړندود (میتودولوژي)

دا لیکنه د ژور ساحوي کار او خورا ډېر روښانه انځور (تصویر) پر بنسټ ولاړه ده چې د ۲۰۱۱ او ۲۰۱۷ کلونو په مینځ کې د پخوانیو دښتو په دوو سیمو کې د څېړنې په ۲۰ ساحو کې ترسره شوی ده (دریم شکل وګورئ). د ساحوي کار په بهیر کې له کلیوالو کورنیو سره ۱۰۷۸ مرکې شوي او له هغو کسانو څخه د مالوماتو د راټولولو په پایله کې بشپړې شوي دي چې په دغو دښتو کې میشتو ټولنو ته چوپړتیاوي وړاندې کوي. په ټولیز ډول، د هلمند د ولایت د بغرا د کانال په شمال کې د څېړنې په اتو ځایونو کې له بزګرانو سره ۷۴۲ مرکې او د فراه د ولایت د بکوا د څېړنې په سیمه کې ۳۳۲ مرکې ترسره شوي دي.[۳] نورې ۴۰ مرکې له هغو ځانګړو کسانو سره وشوي چې د پخوانیو دښتو په سیمو کې ئې د لښکرګاه، ګرشک، فراه او دلارام په ښارونو کې خلکو ته خدمتونه رسول، په دغو کسانو کې هغه سوداګر هم شامل وو چې د لمریزو تختو (دړو)، ډیزلو، آفت وژونکو توکو او د ژورو څاګانو د وسایلو او تجهیزاتو په اجاره ورکولو کې ئې بوختیا درلودله.

خورا ډېر روښانه انځور ،او له لیرې څخه د انځور اخیستل د څېړنې له طرحې څخه نه جلا کیدونکی بهیر وو. د سابو په اړه جغرافیائي (Geospatial) او مکاني مالومات د ډېر روښانه انځور سره یو ځای شوي وو ترڅو د پخوانیو دښتو په سیمو کې د ځای پر ځای کیدو (میشت کیدو) تاریخ تر کتنې لاندې ونیسي. د څېړنې سیمې بیا وروسته، د میشت کیدلو د مودې پر اساس تشخیص شوې وې، چې په هغو کې هغه سیمې هم شاملې وې چې له ۲۰۰۳ کال څخه پخوا ئې د کرنیز تولید نښې نښانې ښودلې او په ۲۰۱۳ کال کې استوګنې شوې وې. له لیرې څخه د مالوماتو راټولول او انځور اخیستل بیا وروسته ددې لپاره ترګټې لاندې ونیول شو چې ساحوي کارکوونکي مشخصو ساحو ته ولاړ شي، او د لومړنیو مالوماتو د راټولولو پایلو ته کتنه وکړي. خورا ډېرو روښانه انځورونو د څېړنې د لومړنیو موندنو نورې لټونې ته هم اجازه ورکړه چې په هغو کې تر کښت لاندې فصلونه او نوې یا له فزیکي کبله ویجاړ شوي بنسټونه، او تر کرنې لاندې سیمو په اندازه کولو کې بدلونونه هم شامل وو. په پای کې، جغرافیائي تحلیلونو د څېړنې له موندنو څخه په پراخه سیمه کې چې د څېړنې له ساحې څخه وتلې وه، ملاتړ وکړ.

ساحوي کار د محلي څېړونکو د ډلې له خوا ترسره شوی وو. دې څېړنې د ناقانونه یا ترځمکې لاندې فعالیت او کورني معیشت د تګلارو په اړه هغو پوښتنو ته ځواب وموند چې د لومړنیو مالوماتو راټولولو سره ئې تړاو درلود. د کوکنارو د کښت او سوداګرۍ او ناقانونه مخدره توکو په وړاندې مخالفت له بزګرانو او نورو شریکانو سره د ۱۹۹۰ او ۲۰۰۰ کلونو په پرتله د بحث او خبرو اترو خورا حساسه موضوع جوړه کړې ده (منسفیلډ ۲۰۱۰)[۴] په هر صورت، کله چې د افغانستان د تریاکو اقتصاد د ترکتنې لاندې نیسو، کلیوالې کورنۍ د تحلیل لپاره تر ټولو د ډېرې لاس موندنې واحد شمیرل کیږي. دا موضوع په عین حال کې د موندنو د بیا کتنې لپاره په افغانستان کې د کلیوال معیشت او نورو کارونو لپاره یو بنسټ جوړوي، او په افغانستان او نورو ځایونو کې د کلیوال معیشت د تګلارو په اړه د تریاکو د تولید د ځانګړې ونډې په هکله څېړنې ترسره کوي. په ساحه کې بحثونه ددې پرځای چې د ځواب ورکوونکو او د هغو د کورنیو په مستقیمو تجربو تمرکز ولري ، په پراخه جغرافیائی ساحه کې، چیرې چې ځوابونه د اټکل او ګومان پر اساس ولاړ وي، سر ته ورسیده.[۵] د بزګرانو له کورنیو سره ځانګړې مرکې په ساحه کې چیرې چې بزګرانو د خپلو فصلونو پالنه کوله، ترسره شوي، ځکه چې د بزګرانو په کورونو کې مرکو کولای شو د نورو پام راواړوي، او مرکې له بیاځلي خنډونو سره مخامخ شي. له بزګرانو سره د ډله ایزو خبرو اترو مخنیوی وشو، ځکه چې هغوی: الف) د ټولنې د مشرانو تر ولکې لاندې وو؛ ب) د حساسو مسئلو په اړه ئې خبرې اترې مناسب نه ګڼلې؛ او ج) مرکې په زیاتیدونکي توګه په تیره بیا د افغانستان په سویل کې له امنیتي ګواښونو سره مخامخ وې.[۶]


۳ د پخوانیو دښتو په سیمه کې څېړنه په عین حال کې د هلمند کانال په خړوبو شوو عمده سیمو کې چیرې چې ډېر میشت شوي وګړي د بغرا په شمال کې اوسیږي، په ۱۲ ساحو کې اوږدو ساحوي کارونو له خوا تر ملاتړ لاندې راغلې دي.

۴ ډیویډ منسفیلډ. په شګو باندې دولت جوړونه: تریاکو څنګه افغانستان کمزوری کړ (نیویارک: د اکسفورډ پوهنتون چاپخونه، ۲۰۱۲).

۵ په افغانستان کې د سویډن کمیټه.

۶ منسفیلډ، په شګو باندې دولت جوړونه.

دوهم شکل: د افغانستان په سویل لویدیز کې د څیړنې ساحې



# ۳. په افغانستان کې د ترياکو د کوکنارو د کښت د بدلون بيلګې

## ۳.۱ د کوکنارو د پراخ کښت رامينځ ته کيدل

که څه هم داسې فکر کيږي چې په افغانستان کې د ترياکو او کوکنارو کښت اوږد تاريخ لري، خو تر ۱۹۸۰ او ۱۹۹۰ کلونو پورې چې په ايران کې انقلاب وشو، په پاکستان کې د حد(Hadd) قانون پراساس د کوکنارو او ترياکو په توليد باندې بنديز ولګيد، او تر ټولو اړين- په افغانستان کې جهاد (۱۹۷۹-۱۹۹۲) او کورنۍ جګړه (۱۹۹۲-۱۹۹۲) ددې توکو د پام وړ کرنې په اړه لږ شواهد تر سترګو کيږي (مک ډونالډ، ۲۰۰۷:۵۹) [۷] د جګړې په کلونو کې د ګوډهنډ [۸] په خبره «د فزيکي، سياسي او اقتصادي مساعدو شرايطو او درې برابره نسبي مناسب چاپيريال» په پايله کې، افغانستان په نړيواله کچه د ترياکو د توليد د مشر په توګه راڅرګند شو. په کرنه کې داسې وده، کيدای شي، د جنګسالارانو په سياسي او اقتصادي ګټو پورې تړاو ولري چې په کښت باندې د ماليې د ترلو، او په ځينې وختونو کې د نوموړو توکو په سوداګري کې د مستقيم ګډون له ليارې ملاتړې شبکې رامينځ ته کړې وي.

د ترياکو توليد، د جګړې په کلونو کې د فعاله او کارکوونکي دولت په نه شتون کې چې يا د کليوال قانوني اقتصاد د ودې ملاتړ وکړي او يا د قانون په پلې کولو سره د کوکنارو د کښت مخه ونيسي، په خورا مناسب او ښه کرنيز توکي بدل شو. د وچکالۍ په وړاندې د يوه مقاوم توکي په توګه، کيدای شي چې کوکنار د اوبو لګولو د يوه ويجاړ شوي سيستم او بې پاينښته اوبو رسولو په شرايطو کې هم ښه حاصل ورکړي؛ ترياک د لوړ ارزښت / او ټيټ وزن درلودونکي توکي په توګه، په آسانۍ سره په خرابو سړکونو يا سرحدونو کې ليږدول کيدای شي. د کوکنارو د کښت لپاره مهارتونه په آسانۍ سره زده شول او د حاصل د راټولولو توکي د سيمه ايزو کسبګرو يا پخپله د بزګرانو له خوا جوړيدل. ترياک او کوکنار د فارم(کښت) په دروازې کې د سيمه ايزو سوداګرو له خوا رانيول کيږي، او په دې توګه د بزګر لپاره د ترانسپورټ او ليږد لګښت کموي. په پای کې، د جګړې په بهير کې، په افغانستان کې د ترياکو استعمال په لوړه کچه زيات والی وموند، په پاکستان او ايران کې د افغان مهاجرينو په مينځ کې د ترياکو استعمال رواج پيدا کړ او په دې توګه د ترياکو لپاره تقاضا ډيره شوه [۹].

کله چې د کوکنارو کرکيله له لوړو ليرې پرتو دروڅخه د ټيټو سيمو ځمکو ته پراختيا وموندله، نو د ترياکو ونډه په کليوال معيشت او ټول اقتصاد کې ډير اهميت پيدا کړ. د کرنيزو حاصلاتو پراخوالی په دې مانا ده چې ځمکې لرونکې کورنۍ د کار د اړتياوو د پوره کولو ځواک نه لري نو ځکه خپلې ځمکې بې وزله او وزګارو بزګرانو ته په شريک ډول ورکوي. دا ډول عمل د ځکمې د خاوند او بې وزلو بزګرانو تر مينځ يو ډول تړلتوب رامينځ ته کوي چې په کليوالو سيمو کې د ټولنيز اقتصادي تمايز او جلاوالي لامل ګرځي.

ترياک، بې وزلو او لږځمکو بزګرانو ته ددې امکان برابروي چې داسې ځمکو ته لاسرسي پيدا کړي چې کولای شي په هغو کې د لوړې بيې او نغدو توکو او همدا رنګه غذائي موادو کرکيله پيل کړي، او په دې توګه د ترياکو د مخکينيو پيرودلو په سيستم کې ونډه واخلي چې د کورنيو لپاره د خوړو د لږوالي، کورنيو ناروغيو يا د کوچنيانو د زيږيدلو، ودونو او مړينې په وخت کې آسانتياوې او سيالداري برابروي.

د ترياکو لپاره د کوکنارو کښت په عين حال کې د هغو کسانو لپاره د کار په مقابل کې مزد برابروي چې کولای شي د ډير کار په فصلونو کې ګاونډيو ولسواليو ته سفر وکړي.

ډيريدونکې اغيزه د شريکو صنايعو د خدمتونو له لياري نور اقتصادي فرصتونه او په همدې توګه مصرف کيدونکي عوايد را مينځته کوي، چې ځينې ئې په سيمه ايزه کچه بيا پانګه شوي وو.

هغو کسانو چې پانګې او د تاوتريخوالي وسيلو ته لاسرسي درلوده له را ټولې شوې پانګې او سياسي او پوځی نفوذ څخه ګټه پورته کړه.

پراخو اقتصادی او ټولنيزو ګټو ته پاملرنه، او د هغو د کنټرول لپاره د دولت د ظرفيت/ يا هڅونې نشتوالی، ددې سبب شو چې په ۱۹۸۰ او ۱۹۹۰ کلونو کې د ترياکو اقتصاد بريالی شي. د مخدره توکو کنټرول ډير لږ وو او تر لوړې کچې ئې نمايشي بڼه لرله او موخه ئې د بهرنيو مرسته کوونکو د پراختيائي مرستو هڅول وو. [۱۰]

۷ د. مک ډونالډ. په افغانستان کې مخدره توکي: ترياک، باغبان او د لړم کيسې (لندن: د پلوتو چاپخونه، ۲۰۰۷).

۸ جې. ګو ډهنډ، «داړه ماران، سرحدي ځمکې او د ترياکو جګړې» له ځنډو څخه د افغان دولت جوړولو ته کتنه»( (DIIS working paper، ۲۰۰۹

۹ مک ډونالډ، په افغانستان کې مخدره توکي.

۱۰ ډيويډ منسفيلډ، « د توکو ياخدمتونو د مبادلې نه برياليتوب: په افغانستان کې پرمختيائي بديل» ( يوه ليکنه چې د مخدره توکو د کنټرول په اړه د همکارۍ لپاره د بديل پرمختيا د نړيوال کنفرانس لپاره جوړه شوی وه. فيلډافينګ، ۲۰۰۲)

د کښت د اندازې په اړه د اټکلونو او د سیمې د کنترول په اړه د پوښتنو شتون، د مخدره توکو په وړاندې د کمپاین د اغېزمنتوب په اړه خورا ډېر شکونه رامینځته کړل (مارتین۲۰۱۴). [۱۱]

د مخدره توکو د کنترول لپاره دغه پخوانۍ هڅې چې په ۱۹۹۰ کال کې د نسیم آخندزاده او په ۱۹۹۲ کال کې د حاجي قدیر له خوا ترسره شوې په محدودوجغرافیائي سیمو کې د تولید په اړه یوازې لنډ مهاله چوپتیا وه. هغوی سیاسي ترتیبات له سیمه ایز قوماندانانو او امکان لرې د مخدره توکو له سوداګرو او پروسس کوونکو سره ګډوډ کړل، او داسې مالومېږي چې د مرسته کوونکو له خوا ئې د سیمه ایز قوماندانانو د تمې پرخلاف لږ مرستې ترلاسه کړې.

## ۳.۲ د طالبانو په کلونو کې پیاوړتیا

په ۱۹۹۴ کال کې سویلي ولایتونو ته د طالبانو راتګ د تریاکو د کرنې د ودې په درولو کې هیڅ کار ترسره نه کړ (دریم شکل وګورئ). په حقیقت کې د هغوي د حاکمیت په دوران کې د کوکنارو کښت په څرګند ډول پراخ شو، ځکه چې په عمده لاروکې د ملیشه وو له خوا د نقلیه وسیلو د لټون ځایونو لیرې کېدلو او محدودو کلیوالو فرصتونو ته د هغوی د شړلو په پایله کې آسانتیاوې را مینځ ته شوې. [۱۲] د ملګرو ملتونو د مخدره توکو او جرمونو د دفتر (UNODC) د اټکل پراساس په ۱۹۹۹ کال کې د کوکنارو کښت د ۱۹۸۷[۱۳] کال په پرتله له ۱۸۵۰۰ هکتارو څخه ۹۱۰۰۰ هکتارو ته لوړشو.

د ۱۹۹۰ کلونو په موده کې، د تریاکو تولید د سویل، ختیځ او شمال ختیځو دودیزو برخو څخه د شمال او مرکزي سیمو او په ختیځ کې نورو ولسوالیوته پراختیا وموندله. [۱۴] هغو کورنیو چې د تولید په عمده سیمو کې ئې لږ ځمکې درلودې د کورنۍ غړي نورو ولایتونو ته چې هلته ئې خپلوې او توکمیزې اړیکې لرلې، ولیږل. هغوي په دغو ځایونو کې ځمکې په اجاره یا شریک ډول ونیولې، او د تریاکو په تولید کې ئې خپل مهارتونه له سیمه ایزو وګړو سره شریک کړل[۱۵]. وروسته بیا دغه کروندګر بیرته خپلو ځمکو ته راوګرځېدل او خپل نوې مهارتونه یې په کار واچول.[۱۶] دغو ځایونو کې د بزګرانو په مینځ کې داسې تجربې هم وې چې د غنمو او پیازو په کښتونو کې ئې د ځمکو په کوچنیو برخو کې د کوکنارو د کښت د نه بریالیتوب له ویرې د لومړي ځل لپاره کوکنار وکرل. [۱۷]

د کښت د پراختیا لپاره د سیمه ایزو وګړو احتیاطي ونډه، له هغه څه سره یو ځای چې بایرد [۱۸] ئې د مخدره توکو د اقتصاد «بې بندوباره یا آزاد» خصلت بولي، په کلیوالو سیمو او اقتصادی فرصتونو کې د خپلواکۍ یوه کچه په ګوته کوي چې تریاک ئې د فعالینو یوې پراخې لړۍ ته وړاندې کوي. [۱۹]

د طالبانو د حاکمیت په موده کې، د افغانستان په اقتصاد کې د تریاکو سوداګرې پیاوړې شوه. د ۲۰۰۰ کال د جولای په میاشت کې له بندیز څخه پخوا، طالبانو د UNDCP په غوښتنه له کوچني فعالیت څخه پرته، د کوکنارو د تولید یا سوداګرې د مخنیوی په هکله ډېر لږ څه ترسره کړل.[۲۰] تریاک، لویو لارو ته نږدې د ولسوالیو په بازار کې وچېدل او خرڅېدل. په ختیځ او سویل کې د بازار موندنې مرکزونه پراخ او له ارتباطي سړکونو

۱۱ م. مارتین، یوه داخلي جګړه: د هلمند د شخړې په هکله یو وییز تاریخ (لندن، هرتز او کمپني لمتید، ۲۰۱۴)

۱۲ UNDCP، «ستراتیژیکه مطالعه: په افغانستان کې نوی ولسوالیو ته د تریاکو د پراختیا د بهیریو تحلیل د ډې منسفیلډ یو مقدماتي ریپوټ» (اسلام آباد: د ملګرو ملتونو د مخدره توکو د کنترول پروګرام، ۱۹۹۸)

۱۳ د متحده ایالاتو د بهرنیو چارو وزارت، د مخدره توکو په اړه نړیواله بیرو، «د مخدره توکو د نړیوال کنترول د استراتژي په اړه ریپوټ» (واشنګټن دي سي: د متحده ایالاتو د حکومت د چاپخوني اداره، ۱۹۹۷).

۱۴ UNDCP ، «استراتژیکه څېړنه -۱

۱۵ UNDCP، «استراتژیکه څېړنه -۱ ، «ستراتیژیکه څېړنه-۵: په افغانستان کې نوو ولسوالیوته د تریاکو د پراخیدلو د بهیر یو تحلیل» (د منسفیلډ دوهم ریپوټ (اسلام آباد: د ملګرو ملتونو د مخدره توکو د کنترول پروګرام، ۱۹۹۹).

۱۶ UNDCP، «استراتیژیکه څېړنه-۱»

۱۷ UNDCP، «استراتیژیکه څېړنه-۱»

۱۸ دبلیو. ای. بایرد، «په افغانستان کې د تریاکو د اقتصاد د ستونزو په وړاندې غبرګون: له پرمختیائي لید څخه د پالیسي ښوونې او درسونه – د پالیسۍ د څېړنې کاری لیکنه ۴۵».

۱۹ منسفیلډ، د شګو پرسر دولت جوړونه

۲۰ منسفیلډ، د شګو پرسر د دولت جوړول


سره نږدې سیموته ولیږدول شول[۲۱]. په پای کې، د هیروئینو د پروسس کولو آسانتیاوې د ولسوالیو مرکزونو ته نږدې چیرته چې د طالبانو سرتیرو شتون درلود، را پیدا شوې.

ځینی کسانو دغه پراختیا، چې د نورو ځمکو له نیولو سره په یوه وخت کې رامینځته شوه، د طالبانو له خوا د تریاکو د سوداګرۍ د کنترول نښه وګڼله. خو دغه اړیکه ډیره پیچلې وه، او د سیمه ایزو سیاسی اختلافونو د حل او راکړې ورکړې ښکارندویې یې کوله. په ځینی وختونو کې، د سیمې د طالبانو مشرتابه د مخدره توکو د تولید او سوداګرۍ زغم کاوه او نه یې غوښتل چې د سیمې د ګټو غټې ستونزې راوپاروي. په نورو وختونو کې، د طالبانو قومندانان په فعاله توګه د تریاکو په سوداګرۍ او د مالیې په اخیستنه کې ښکیل وو.

دغه سیمه ایز جوړښت د ۲۰۰۰ کال په جولای کې د طالبانو له خوا د تریاکو د بندولو تراغیزې لاندې راغې د مخدره تو کو د سوداګرئ پرضد د ملګرو ملتونو او نړیوالو مرستندویانوله خوا واره غوښتنو وروسته، طالبانو د ۲۰۰۰ – ۲۰۰۱ کلونو په فصلونو کې د کوکنارو پرتولید خورا اغیز من بندیز ولګاوه چې په پایله کې ئې د ۲۰۰۰ کال د ۸۲۰۰۰ هکتارو د کښت په پرتله په ۲۰۰۱ کال کې یوازې ۸۰۰۰ هکتاره ځمکه د کوکنارو تر کښت لاندې راغله. ( دویم شکل ووینی). که څه هم د ملګرو ملتونو کارکوونکو دا ګام « د مخدره توکو په کنترول کې ترټولو خورا اړین بریالیتوب» وګاڼه[۲۲]، خو دا داسې پیښه وه چې د ډیرې خواشینۍ سبب شوه.

د طالبانو لپاره، بندیز پرسیمه ایزو وګړو باندې داسې د برونه راوستل چې غیري پوځي ځواکونو ته ئې دا امکان برابر کړ چې د رژیم[۲۳] په مقابل کې سوداګري وهځوي. د ۲۰۰۱ کال وروسته لنډمهاله اداري او له هغه وروسته حکومت، د افغانستان اسلامی جمهوریت، لپاره پرکښت باندې بندیز د تریاکو بیه په چټکۍ سره لوړه کړه او د کوکنارو کښت ئې په ټولو سیموکې ډیر ګټورکړ. هغو ولایتونو ته د مجاهدینو د مشرانو ( مشرتابه) له بیرته راتګ سره یوځای، چې په ۱۹۸۰ او ۱۹۹۰ کلونو کې ئې هلته حکومت کاوه، تریاک د افغانستان په اقتصاد کې په یوه تکیه ځای او وزن باندې واوښت چې پراساس ئې د افغانستان د حکومت او په افغانستان کې د نړیوالو پروژو په اړه قضاوت کیده.[۲۴]

**دریم شکل: په افغانستان کې د کوکنارو تریاکو کښت، ۱۹۸۷–۲۰۱۷ (هکتار)**




۲۱ UNDCP« ستراتیژیکه څیړنه - ۲: د کښت په دروازو کې د سوداګرۍ محرکه قوه او د تریاکو د سوداګرو استراتژیکې هڅې. د منسفیلډ وروستنۍ ریپوټ» ( اسلام آباد: د ملګرو ملتونو د مخدره توکو د کنترول پروګرام، ۱۹۹۸ ب).

۲۲ م. جلسما، « د طالبانو له خوا په تریاکو باندې د بندیز درسونه» د مخدره توکو پرضد د پالیسي نړیواله مجله.

۲۳ د مخدره توکو او جرمونو لپاره د ملګرو ملتونو اداره ( UNODC)، په افغانستان کې د تریاکو اقتصاد: یوه نړیواله ستونزه ( نیویارک: ملګري ملتونه، ۲۰۰۳)، دیوید منسفیلډ، « د تریاکو کوکنارو کښت څنګه هځول کیږي؟ د ۲۰۰۳/ ۲۰۰۴ کلونو د کښت په فصل کې په افغانستان کې د کوکنارو تریاکو د کرونکو ترمینځ د پریکړې نیول » ( د مخدره توکو د کنترول د څیړنې په اړه د UNODC/ONDCP د دوهم تخنیکی کنفرانس لپاره مقاله، ۲۰۰۴).

۲۴ منسفیلډ، د شګو پرسر دولت جوړونه.

## ۳.۳ د دولت جوړونې تر پروژې لاندې د کښت پراختیا او بدلون بیلګې

جیستوزی[۲۵] استدلال کوی چی د کرزی د رژیم په لومړنیو کلونو کی د تریاکو اقتصاد د سیاسی متشبثیونو لپاره د قدرت سرچینه ګرځیدلی وه. د پارلمان غړي، په حکومت کې وزیران، د قدرت سیمه ایز دلالان ، امنیتی چارواکي او کارکوونکي په مستقیمه توګه د مخدره توکو په سوداګري کې ښکیل وو او یا ئې د « امنیت د وړاندې کونکو»[۲۲] په توګه د خپلو ونډو په مقابل کې پیسې ترلاسه کولې. بایرد اوجانګلیز[۲۷] د مخ پر ودې بازارونو د یوځاي کیدلو په اړه ریپوټونه وړاندې کول، په داسې حال کې چې نورو ادعا کوله چې د تریاکو سوداګري د یو څو غټو کسانو په لاسونو کې لویدلي ده، چې ډیری ئې د کورنیو چارو له وزارت سره اړیکی لري[۲۸].

په۲۰۰۱ کال کې د بازار د تمرکز شواهد په ولایتونو کې لږ ترسترګو کیدل. په حقیقت کې، کښت په هغو سیمو کې خورا ډیر پراخ شو چې له شته بازار سره ئې یو څه اړیکې درلودې او په تولید کې د محدودو تجربو خاوندان ګڼل کیدل[۲۹]. دا موضوع د دې حقیقت پر بنسټ وهڅول شوه چې له بندیز او مخدره توکو سره له مبارزې وروسته، د مخدره توکو لوړو بیو خپل پاینښت څرګند کړ. د تولید په دودیزو سیمو کې هم د تولید زیاتوالی ولیدل شو، ځکه چې بزګرانو له لوړو بیو او د حکومت د کنترول له نه شتون څخه ګټه پورته کړه ترڅو د عایداتو له لاسه ورکول او ډیرو پورونو جبران وکړي چې د طالبانو له خوا د بندیز په موده کې ورسره مخامخ شوي وو[۳۰]. په۲۰۰۴ کال کې، د ۳۶۴ ولسوالیو په کتار کې په۱۹۴ ولسوالیو او ټولو ۳۴ ولایتونو کې کوکنار کرل کیدل، په داسې حال کې چې په۱۹۹۴ کال کې یوازې د اتو ولایتونو په۵۴ ولسوالیو کې د کوکنارو کښت رواج درلود. [۳۱] له۲۰۰۵ کال څخه وروسته، په ملی کچه د تریاکو او کوکنارو کښت په پراخه توګه د بدلون په حال کې وو ، په۲۰۰۸ او ۲۰۱۰ کلونو په مینځ کې تولید لږ شو ، په داسې حال کې چې په۲۰۱۱ کال کې بیا پورته ولاړ. په هرصورت، ټولیزه شمیره په سیمه ایز، ولایتی او ولسوالی کچه بدلونونه پټوي. د هلمند او ننګرهار په ولایتونو کې د لید وړ کمیدلو په ټولیزې شمیرې باندې خورا ډیره اغیزه درلوده، او په حقیقت کې ئې مرسته وکړه چې د انګلستان او متحده ایالاتو د حکومتونو غوښتنه پرځای کړي.

د مخدروتوکو پرضد مبارزه د دغو کمښتونو یو عامل ګڼل کیږي. د کوکناروکښت په ننګرهارکی- هغه ولایت چې تر هلمند وروسته یې د تریاکو په تولید کې دوهم ځای درلود – د دوو والیانو له خوا د بندیز له لګولو وروسته ډیر لږ شو. ترټولو ډیره حیرانوونکی بیلګه پخپله هلمند ده چیرې چې په ۲۰۰۸ کال کې د هلمند د خوړو زون جوړ شو. د انګلستان او متحده ایالاتو د حکومتونو له خوا د مالي او تخنیکی ملاتړ دغه نوښت له درې فعالیتونو څخه جوړ وو: د مخدره توکو پرضد مالوماتی کمپاین چې موخه ئې له کښت څخه د خلکو ویرول، د غنمو او کمیاوی سرې ویشل، او د کښت ویجاړول وو ( منسفیلډ او نور، ۲۰۱۱)[۳۲] د هلمند د خوړو په زون کې، په ۲۰۰۹ کال کې د کښت ساحه له ۱۰۳۵۹۰ هکتارو څخه ۲۹۸۳۳ هکتاروته را ټیټه شوه ( ځلورم شکل وکورئ). د ۲۰۱۱ کال په پسرلي کې د ۲۰۰۷ – ۲۰۰۸ کال د فصل په پرتله په کښت کې ۴۰ سلنه کمښت راغلی وو.

په ۲۰۰۸ – ۲۰۰۹ کلونو کې د کښت د کمیدلو خواته د تمایل دوهم عامل د غنمو او تریاکو ترمینځ د سوداګری بدلون وو. [۳۳] په ۲۰۰۷ کال کې په نړۍ کې د حبوباتو د بیو ډیر چټک لوړوالی، چې په پاکستان کې د بی نظیر بوتو له وژنې او ناخوندیتوب سره یو ځای وو، د کرښې په دواړو غاړو کې د پاکستانی غنمو د اوړو سوداګري محدوده کړه او په دې توګه د غنمو بیه په افغانستان کې ډیره لوړه شوه. سربیره پردې، د ۲۰۰۲ او ۲۰۰۷ کلونو په مینځ کې د تریاکو ډیر زیات تولید د ۲۰۰۱ کال په سپټمبر کې د یوه کیلو تریاکو بیه له ۷۰۰ ډالرو څخه د ۲۰۰۷ – ۲۰۰۸ کلونو په فصل کې (۷۰) دالرو ته را ټیټه کړه.[۳۴]

۲۵ انتونیو جیستوزی، « د افغانستان د ځواکمنانو د جګړې او سولې اقتصاد» نړیواله سوله ساتنه ۱۴ (۲۰۰۷)۹

۲۲ جې. منکین.« له سیستم سره لوبې کول: په افغانستان کې تریاک څنګه سیمه ایز ځواک پیاوړی کوي "

۲۷ ډبلیو. ای. بایرد ، او و. جانګلز ، « د تریاکو په اقتصاد کې د بیو او بازار متقابل عمل» د افغانستان د تریاکو صنعت: جوړښت، فعالیتونه، د مخدره توکو پرضد پالیسی لپاره محرکه قوه او مفاهیم، د وریس بودنبرګ، او ویلیام بایرد (کابل UNODC/ نړیوال بانک، ۲۰۰۲).

۲۸ د افغانستان د تریاکو صنعت: جوړښت، فعالیتونه، د مخدره توکو پرضد پالیسی لپاره محرکه قوه او مفاهیم، د وریس بودنبرګ، او ویلیام بایرد (کابل UNODC/ نړیوال بانک، ۲۰۰۲).

۲۹ د افغانستان د تریاکو صنعت: جوړښت، فعالیتونه، د مخدره توکو پرضد پالیسی لپاره محرکه قوه او مفاهیم، د وریس بودنبرګ، او ویلیام بایرد (کابل UNODC/ نړیوال بانک، ۲۰۰۲).

۳۰ UNODC، په افغانستان کې د تریاکو اقتصاد ، منسفیلډ ، « د کوکنارو تریاکو کښت څنګه هڅول کیږي».


۳۱ له مخدره توکو سره د مبارزی وزارت (MCN) " ملګري ملتونه، په افغانستان کې د تریاکو سروې " کابل: UNODC/MAC ، ۲۰۰۴)

۳۲ دیوید منسفیلډ ، السیس لمتید.، او OSDR: « په یوه وخت کې د واقعی بشپړ او تکراري خطرونو اداره کول: د ۲۰۰۸ – ۲۰۱۱ کلونو په مینځ کې په مرکزي هلمند کې د تریاکو د تولید د کمښت توضیح» (کابل: د افغانستان د څیړنې او ارزونې اداره، ۲۰۱۱).

۳۳ منسفیلډ او نور. « په یوه وخت کې د تکراري خطرونو مدیریت»، منسفیلډ ، او ای. پین، « په افغانستان کې د مخدره توکو پرضد مبارزه: بریالیتوب یا نه بریالیتوب؟» (کابل: د افغانستان د څیړنې او ارزونې اداره ، ۲۰۰۸).

۳۴ منسفیلډ او پین، « په افغانستان کې د مخدره توکو پرضد مبارزه،» ۱۴.

**څلورم شکل: له ۲۰۰۱ څخه تر ۲۰۱۷ کال پورې په هلمند کې د کوکنارو او تریاکو کښت (هکتار)**




د بيې له دغه بدلون سره، په افغانستان کې بزګران د خوړو د خونديتوب په اړه په ډېروونکي ډول اندېښمن شول. ډېرو بزګرانو د نغدې غلې حاصل پرځای د خپلو ځمکو په لويو برخو کې غنم وکرل. په لړ بنېرازو سيموکې، چيرته چې د ترياکو کښت لړ دود وو او وګړو ئې تجربه او مهارت نه درلود، بزګرانو پريکړه وکړه چې د ترياکو د ګټې پرځای چې د غنمو د رانيولو لپاره د خوړو د خونديتوب لپاره په کارېږي، پخپلو ځمکو کې غنم وکري. په داسې شرايطو کې، بزګران اړ نه وو چې د نورو د تشدد او اجبار پراساس د ترياکو کښت پرېږدي، که څه هم دې موضوع سياسي مشران يا د مخدره توکو پرضد ټولنه د کښت دکموالي له امله د کريډټ اخيستلو څخه منع کړي۳۵.

په دغه موده کې د کښت د لږوالي لپاره دريم عامل په تيره بيا په کوزو درو کې چيرې چې د پراختيائي مرستولو لويه برخه ويشل کيده، په قانوني اقتصاد کې د فرصتونو ډيروالي وو. د نړيوال بانک د اټکل پراساس د ۲۰۰۲ او ۲۰۱۲ کلونو ترمينځ موده کې، **۵۵** بليونه ډالر مرسته افغانستان ته ورکړل شوه، او په ناخالصه ملی توليد کې د کلنۍ ودې نرخ ۹ سلنې ته ورسيد ۳۲. د کوکنارو د ودې عمده ولايتونو لکه هلمند د ۲۰۰۹-۲۰۱۱ کلونو په موده کې د پراختيائي مرستو نږدې ۲۰۰ مليونه ډالر لاس ته راوړل. دا هغه کلونه وو چې په هلمند کې HFZ پلې شو ۳۷.

حتی د ۲۰۰۸ کال په لومړيوکې، د ترياکو ودې په ډيرو ولايتونوکې د ولايتونو د مرکزونو په شا اوخوا سيمو کې د کرنې د تنوع ( ډول ډول والي) او د کروندو د ډير نغښتې سيستم ډيرې ننبې ليدل کيدې چې په هغوی کې د لوړ ارزښت، د لنډ فصل حاصلات او په يوې ځمکې کې د راز راز غله جاتو کښتونه ليدل کيدل. دې موضوع بزګرانو ته دا امکان برابر کړی وو چې د حاصلاتو د نه برياليتوب ګوابښ په ښه توګه اداره کړي او د خپلو کښتونو عايد ته وده ورکړي۳۸ . په دې سيموکې ميشتو کورنيو د خدمتونو په برخه او ودانيزه صنعت کې د مزدوري کار له فرصتونو څخه ګټه واخيسته او خپلو عوايدو ته ئې لا ډيره تنوع ورکړه.

د کښت د کچې د را لويدلو څلورم لامل سيموته د ملي او بين المللي امنيتي ځواکونو پراخيدل وو. له ۲۰۰۴ کال څخه راهيسې، ټولنو د ولايتی بيا رغونې د ډلو د تاسيس له لپارې هڅې پيل کړې. په ۲۰۰۸ کال کې، د مرکزي دولت په جوړولو کې د پوهيدو وړ نه برياليتوب، مخ په ډيروالي بغاوت او له ياغيانو سره د مبارزې نوې اصول ددې لامل شول چې دولت جوړونه له ښکته څخه پورته ته بدلون ومومي او په ولسواليو کې تمرکز رامينځ ته شي. يوه ځانګړې تګ کرښه د ولايتی مرکزونو په شاواوخوا سيموکې دترياکو د کښت لږوالی او کمښت وو. په هغو ولايتونو کې لکه هلمند ، چيرې چې پوځی شتون ولسواليو ته وغزيد ، او د کوکنارو کښت هم منعه شو. د پوځی عملياتو اغيزه د کښت په کچه په تيره بيا د هلمند ولايت د مارجې په ولسوالی کې خورا زياته برېښنده. په دغه ځای کې د ۲۰۱۰ کال په فبروری کې د متحده ايالاتو **۱۵۰۰۰** سمندري ځواکونو او د

۳۵ منسفيلډ او پين، « په افغانستان کې د مخدره توکو پرضد مبارزه»، UNODC/MCN، « د ملګرو ملتونو له خوا په افغانستان کې د ترياکو سروې»، ( کابل: /UNODC MCN، ۲۰۰۸): ۲.

۳۲ ګودهند ، « ياغيان، سرحدي ځمکې او د ترياکو جګړې»

۳۷ USAID ۲۰۱۴: ۲۹.

۳۸ منسفيلډ او پين، « په افغانستان کې د مخدره توکو پرضد مبارزه»، ديويد منسفيلډ، (۲۰۰۸). « بيا پاځيدل او کمښت: په **۲۰۰۵ – ۲۰۰۷** کلونو کې په ننګرهار او غور کې د کوکنارو او ترياکو د کچې د بدلون په اړه توضيحات. د AREU لپاره د اوبو، څارويو او ترياکو د اقتصاد مديريت» ( کابل: د افغانستان د څېړنې او ارزونې اداره، ۲۰۰۸).

افغانستان د ملي دفاع وزارت او امنيتی ځواکونو ته دنده ورکول ددی لامل شو چې د کوکنارو د کښت لپاره ځانګړي شوي ځمکی په راتلونکي فصل کې له ۲۰ سلنې څخه **۵** سلنې ته را ښکته شي **۳۹**.

د **۲۰۰۷** او **۲۰۱۲** کلونو ترمينځ، د دغو لاملونو يوځای کيدنه – په ولايتونو کې د مخدره توکو کنترول، د غنمو اوکوکنارو ترمينځ د سوداګري د شرايطو او اړيکو بدلون، په قانوني اقتصاد کې د اقتصادی فرصتونو لوړوالی او په عمده ولايتونو کې د پوځې ځواکونو استقرار – د ترياکو توليد حتا په هغو ولايتونو کې کم کړ چې هلته ئې اوږد تاريخ او تمرکز درلود. په داسي حال کې چې د کښت راټيټيدل په لومړي سرکې د مخدره توکو پرضد د مداخلو او دولت جوړونې د هڅو د پايلو په توګه وستايل شو، خو د سويل او سويل لويديز په ځينې ولايتونو کې د کښت ټيټيدل د نوموړو ولايتونو په ليرې پرتو دښتوکې د کوکنارو د خورا زيات ډيروالي له کبله انډول وموند. د يادونې وړ ده چې په ياد شوو دښتو کې پخوا د کوکنارو ترياکو کښت شتون نه درلود، او په حقيقت کې په دغو ځايونو کې هيڅ ډول کرنيزې هڅې شتون نه وې. راتلونکي برخه د هلمند او بکوا په دوو دښتو کې د کوکنارو پراختيا ترکتنې لاندې نيسي او دا موضوع څرګندوي چې د اوبولګولو وړ سيموکې د ځمکو د مالکيت اوسنۍ بيلګې څنګه رامينځ ته شوي، او د دولت له خوا مداخلو څنګه د دغو ځمکو په ميشت کيدلو کې ونډه اخيستي، او په يو شمير ولايتونو کې ئې د دښتو په پولو کې د پخوا په پرتله د ډيرو ترياکو د توليد وړتيا لوړه کړي ده **۴۰**.

۳۹ ديويد منسفيلډ، « دريمه لنډيز پاڼه: د ودې په موسم کې»، ( دانګلستان د سفارت لپاره نه چاپ شوی ريپوټ، ): ۳.

۴۰ منسفيلډ (۲۰۱۷).

# ۴. د دښتو په ځمکو کې میشتیدل

د لیکنې دغه برخه هغه جوړښتیز عوامل ترڅیړنې لاندې نیسي چې په دوو دښتو کې ئې د وګړو میشتیدلو ته بنه ورکړې ده. لومړی دښته د بغرا د کانال شمال خوا ته په جنوب لویدیز افغانستان کې د هلمند په ولایت کې موقعیت لري. د بغرا کانال د افغانستان د حکومت د عمده جوړښتیز پروګرام لومړنی ارتباطي لیکه وه، چې په ۱۹۵۰، ۱۹۶۰ او ۱۹۷۰ کلونو کې د نړیوالو مرستندویانو، په تیره بیا د متحده ایالاتو له خوا تمویل شوی وه. نوموړي پروګرام په زرهاوو هکتاره ځمکه خړوبه کړه، چې ډیره برخه ئې په نادعلی او مارجې کې واقع ده، او د افغانستان له مختلفو برخو څخه ۵۵۰۰ کورنۍ پکښې میشتې شوې[۴۱].

د پخوانۍ دښتې سیمې چې د بغرا د کانال شمال خواته واقع دي تر ۱۹۹۰ کلونو پورې لومړني میشت ته چمتو شوي نه وي. په دې مرحله کې، له دښتو څخه ناوړه ګټې اخیستنې شتون نه درلود او له واشیر څخه ډیر لږ شمیر کورنیو خپل کلي پریښودل او له وچکالۍ څخه دې ځای ته راوتښتیدل. یوازې هغه وخت چې د ۲۰۰۱ کال په وروستیو کې د طالبانو حکومت ړنګ شو ډیرو کورنیو د بغرا په شمال کې د پخوانۍ دښتې سیموته راتګ پیل کړ، چې په کابل کې یو کمزوری مرکزي حکومت او په سیمو کې د سیمه ایزو زور واکو ځواک ټینګ شوی وو. نوموړو زورواکو ډیرې ځمکې غصب کړې وې او په خپلو ملاتړو شبکو باندې ئې ویشلې. په ۲۰۱۲ کال کې د بغرا د کانال په شمال او د لومړۍ لویې لیارې په سویل کې ۴۵۰۰۰ هکتاره کرنیزې ځمکې شتون درلود چې ډیرې ځمکې ئې اصلاح شوي او بازار ته د خرڅلاو لپاره وړاندې شوي وې. هغه سیمه چې یوه لسیزه پخوا یې یو څو تیت او پرک خلک او نیمګړې کروندې درلودې، اوس په نوښتونو، خوځیدونکو پانګه والو پراختیائی سیمو او له ۲۰۰۰۰۰ څخه ډیرو وګړو په میشت ځای بدله شوې وه[۴۲].

د دوهمې دښتې سیمه د بکوا په نوم یادیږي چې د بغرا په شمال لویدیز کې ۱۲۰ کیلو متره لیرې پرته ده. په دې ځای کې هم د بغرا په شان کرنیز بدلون رامینځ ته شوی دی. دغه پخوانۍ شاړه ځمکه چې په سیمه کې د « همغې دښتې» په نامه یادیږي، د فراه او نیمروز د ولایتونو ترمینځ کرښه جوړوي او د نورزیو د قوم په بهادرزیو او چلکزیو قبیلو پورې اړه لري. په اصل کې ددې ځای استوګن په ۱۵ کلیو کې اوسیدل چې د ځمکې لاندې اوبوله ۳۲۰ داسې سیستمونو څخه ئې ګټه پورته کوله چې کاریزونه ورته ویل کیږي. (GOES ګوس اونور، ۲۰۱۲) ۴۳.

په هرصورت، په ۱۹۹۰ کلونوکې، سیمې په بدلون پیل وکړ ځکه چې ډیر بزګران له خپلو اصلي کلیو څخه دښتې ته راغلل. دغه وګړي چې د لسیزې په ډیره موده کې دهغې وچکالۍ له کبله ځوریدلي وو چې د ۱۹۹۸ او ۲۰۰۲ کلونو په موده کې ئې خورا شدت وموند، دغې نوې ځمکې ته را کډه شول. په ۲۰۱۲ کال کې، د ۲۰۰۳ کال د ۲۱۰۸۹ هکتاره ځمکې په پرتله، په بکوا کې ۱۲۵۴۲۲ هکتاره ترکښت لاندې ځمکې شتون درلود. په همدغې مودې کې د وګړو شمیر له نږدې ۵۳۷۸۸ کسانو څخه ۳۱۹۹۲۸ کسانو ته لوړ شو ۴۴.

## ۴.۱ ملاتړ، خرڅلاو او اجاره

د بغرا او بکوا په شمال کې د پخوانیو دښتو د ځمکو بدلون د نږدې خړوبو ځمکو د مالکیت د بیلګو پراساس رامینځ ته شو. په داسې حال کې چې د سویل لویدیز دښتو او نورو ځایونو ځمکې په رسمي توګه د دولت ځمکې ګڼل کیږی خو د وخت په تیریدو سره ئې را نیولو او خرڅولو یې رواج موندلی ده. د دښتې د ځمکو مالکیت او د هغوی پراختیا تر ډیرې کچې د ځواک په درلودلو پورې اړه لري چې په دودیزه توګه ئې ادعا کیږی. دا یو پرانیستې او نا محدوده بازار نه دی چیری چې هر څوک د پیسو په مقابل کې ځمکه واخیستلای شي او هر ډول چې مناسبه وګڼي له هغې څخه ګټه پورته کړي.

د بغرا په شمالی سیمو کې میشتیدل، د مرکزي هلمند د کانال په خړوبه شوو سیمو کې د استوګنو ځواکمنو قومونو د پریکړو پراساس ترسره شول. دغو قومونو نږدې په یوازې توګه د پخوانیو دښتو ځمکو ته لاس موندلي ده، خو د هیواد له نورو برخوڅخه هغه قبیلوی ډلې استثنا دي چې له ۱۹۵۰ څخه تر ۱۹۷۰ کلونو پورې د هلمند په مرکزي برخوکې د دولت له خوا په خړوبه شوو ځمکو کې میشت شوی دي او په سیمه کې د ناقلینو په نوم یادیږي. د بیلګې په توګه، له هغو خلکو سره چې مرکې شوې وي، ۹۵ سلنه بارکزی، اسحاق زی، نورزي، علیزي او الکوزي، او یوازي ۵ سلنه نور کوچنی قومونه لکه سلیمانخیل، خروټي او تایمني وو ۴۵.

۴۱ دوپرې (۱۹۹۷): ۴۹۹- ۵۰۷

۴۲ دغه اټکل په کرنیزه ځمکه کې په **یوه جریب** کې د نفوس د تراکم (۰.۹) کسانو پربنسټ ولاړ دی.

۴۳ ب. چې. ګوس، او نور « له کاریز ( قنات) څخه د هلمند د سیند په غاړه اوبه لګول، افغانستان: یو ویجاړشوی میراث» د هایدرولوژي جریده ۲۵، دوهمه شمیره (۲۰۱۷): ۲۲۹- ۲۸۲.

۴۴ دغه اټکل په کرنیزه ځمکه کې په **یوه جریب** کې د نفوس د تراکم (۵۱،.) کسانو پربنسټ ولاړ دی.

۴۵ دیوید منسفیلډ « له بد څخه ئې بدتر کړل»: د هلمند او ننګرهار ولایتونو د شخړو په سیمو کې د کوکنارو د کښت تمرکز» (کابل: د افغانستان د څیړنې او ارزونې اداره، ۲۰۱۴): ۴۹.

د هغو کسانو په لاسونو کې د خلکو د ملکیت تمرکز، چې په سیمه کې د اصلي اوسیدونکو په نامه یادیدل، د ځمکو غصب لومړنۍ لیوالتیا ده چې د ۲۰۰۱ کال په وروستیو کې د طالبانو د رژیم له را پرزیدلو وروسته رامینځ ته شول. د طالبانو د رژیم له ویجاړیدو سره سم، د بغرا په شمال کې ځمکې د سیاسي – پوځی فعالینو او دهغوی د پلویانو ( ملاتړو ) له خوا چې د کانال په سویلي څنډو کې اوسیدل، غصب شوې.

د دغو فعالینو لویه برخه په ولایت کې د هغه وخت والی شیر محمد آخوندزاده او په کابل کې د کرزي په اداري پوړې تړلي وه. د قومندانانو له خوا د دښتې غصب شوې ځمکې د هغوي په کورنیو، دوستانو او ترلاس لاندې پوځي ملاتړو باندې وویشل شوې. په دې توګه، د میشتیدلو په لومړنیو کلونوکې د دښتې ډیرې سیمې د قومندانانو د ځانګړو قومي ډلو لاس ته ولویدې چې لومړی ئې غصب کړې وې. د بیلګې په توګه، په شنه جمه کې یوه سیمه حاجي طاهر، یوه نورزي او په نادعلی کې یوه پخواني امنیتی قومندان، ونیوله چې ۲۵ سلنه بزګران ئې نورزي وو. په دشت آب پشک کې ۲۱،۵ سلنه بزګران بارکزي وو. دا هغه سیمه وه چې په لومړی سرکې د حاجي عبدالقدوس له خوا چې د افغان د ملی اردو د ۹۳ مې فرقې د قومندان او د پارلمان غړي میرولی، پخوانی قومندان وو، غصب شوې وه. دواړه ځواکمنان بارکزي وو[۴۲].

د وخت له تیریدو سره د بغرا په شمال کې د پخوانی دښتې ځمکې سوداګریزې او وپلورل شوې. ځینې ځمکې اصلاح شوې، له ډبرو څخه پاکې شوې، سره ورکړل شوه، کورونه جوړ شول او ژورې څاګانې وکیندل شوې. تر ۲۰۰۷ کال پورې یوه هکتار ځمکه له ۴۰۰ تر ۱۲۰۰ ډالره پورې خرڅیدله، خو کله چې د ځمکې غصب او اصلاح کول بریالي ثابت شول، او لا ډیرو بزګرانو د کانال خړوبې سیمې پریښودې، بیې لوړې شوې او په ۲۰۱۱ کال کې یو هکتار ځمکه ۲۰۰۰ ډالروته ورسیده ۴۷. د ۲۰۱۲ کال په وروستیو کې د بغرا په شمال کې د یوه هکتار ځمکې بیه د موقعیت پربنسټ ۳۸۳۵ دالرو او ۷۱۹۰ ډالرو ته لوړه شوه. د بغرا کانال ته نږدې ځمکې، په سویلي غاړو کې د اوبو لګولو وړ ځمکې، او د لشکرګاه ښار ته د عامه او خصوصی سکټور خدمتونو د آسانه لاسرسی وړ ځمکو بیې لوړې کچې ته ورسیدلې.

په هرحال، د بغرا شمال ته د ځمکو بازار محدود پاتې شو، حتی په ۲۰۱۷ کال کې، د سیمې اصلي اوسیدونکي قومونه لا تراوسه د ځمکو مالکیت، اجاره او شریکه کرکیله په لاس کې لري. ځمکو ته لاس موندنه په کورنیو جوړښتونو او ټبریزو اړیکو پورې اړه لري او د پخوانیو دښتوسیمو ته د ناقلینو ( کډوالو ) شمیر د ګډې کرکیلې یو څوکورنیو ته محدودې شوې دي.

په بکوا کې د ځمکو دمالکیت بیلګې په هغو کسانو پورې اړه لري چې د سیمې اصلی اوسیدونکي ګڼل کیږی. په بکوا کې اصلي اوسیدونکي نورزي کلیوال وو، او اوس هم د دښتو د ځمکو مالکیت د نورزیو په لاس کې ده. د ساحوي کار په موده کې د مرکه کیدونکو ۹۸ سلنه نورزي وو. په هلمند کې د بغرا د کانال د شمال خوا پر خلاف، د اصلی کاریز له خوا خړوبه شوي کلي د بکوا د دښتې د ځمکو د پراخولو لپاره مرکزي ټکی ګڼل کیږی. په بکوا کې د هرکلي وګړي د هغو دښتو ځمکو ته کډه شول چې د دوی په شاوخوا کې پرتې دې، او هلته ئې د خپلو اصلی کلیو څخه په لږ فاصله کې ځمکې ترلاسه کړې.

په هرکلي کې، د دښتې نوې ځمکې د سیمه ایز دود پر بنسټ داسې وویشل شوې چې هرې کورنۍ ته هومره ځمکه ورکړل شوه چې په اصلي کلي کې د کاریز په اوبو خړو بیدله. په دې توګه، هرې کورنۍ چې د اصلي کلي په ۴۰۰ جریبه ځمکو کې ئې ۵ جریبه کاریزي ځمکه درلوده، د کلي له خوا په دښته کې له ۵۲۰۰ جریبه نیول شوې ځمکې څخه ۷۰ جریبه ځمکه ترلاسه کړه. په دښته کې له زرهاوو جریبه شته ځمکو څخه، په داسې حال کې چې حکومت ددی قدرت نه درلود چې د تاراج مخنیوی یې وکړي، نوموړو میشته شوو وګړو له ۸۰ تر ۱۰۰ جریبه ځمکه غصب کړه ترڅو ئې د کورنۍ د غړو ترمینځ وویشي.

هغه کسان چې لومړی په دغو دښتو کې میشت شوي وو، په دی هڅه کې شول چې نوي لاس ته راغلي ځمکې تر کرنې لاندې راولي. ځینو بیا د ځمکو ځینې برخې له سویل څخه په مهاجرینو باندې خرڅې کړې چې د فراه له نورو ولسوالیو لکه ګلستان، بالابلوک او شینډنډ څخه راکډه شوي وو. دغه مهاجرین چې په خپلو کلیوکې د نفوس له ډیروالی او ځمکو له لږوالی سره مخامخ شوي وو، له نوموړو ولسوالیو څخه د ښوځمکو او ښه ژوند په لټه کې دی سیمو ته کډه شول. د ځمکو لومړنې خرڅلاو د اړتیا وړ پانګه وراندې کړه تر څو نوې ځمکې ترکښت لاندې راولي او د تریاکو د تولید او خرڅولو له لیارې لاس ته راغلي پیسې بیا پانګه کړې او لاډیره ځمکه کرکیلې ته چمتوکړې. ویل کیږی چې په دا ډول بهیر کې ځینی اصلي میشت کسانو ۳ تر ۴ ژورې څاګانې ترلاسه کړې دي چې هره یوه ئې ۱۵ تر ۲۰ جریبه ځمکه خړوبوي.

لکه چې په هلمند کې، ټول هغه کسان چې بکوا ته ئې په همشینۍ یا لنډ مهاله توګه مهاجرت کړی دی په سیمه کې پخوانۍ اړیکې لري او ډیری ئې د افغانستان د سویل لویدیز په ټبرونو پورې اړه لري. ټول د کورنۍ یا ملګرو له خوا په سیمې پورې تړلي دي. ډیري هغه کسان چې د اجاره


۴۲ منسفیلډ، « له بد څخه ئې بدتره کړه» ۴۹.

۴۷ منسفیلډ، « له بد څخه ئې بدتره کړه» ۵۰ .

کوونکو یا شریکو بزګرانو په ډول کارکوي ځکه بکوا ته راغلل چې په خپلو کلیوکې یا ځمکه نه لري او یا ډېره لږه ځمکه لري. هغوی دې سیمې ته ددې لپاره هم راځې چې د هلمند په شمال یا د فراه په ځینو برخو کې له شخړو څخه ځان پناه کړي. ډیر وګړي په ۲۰۰۲ او ۲۰۰۷کلونو کې د فراه له ولسوالی څخه بکوا ته راغلل ترڅو د ولایت د مرکز په سیمو کې په تریاکو باندې د بندیز لګولو په وړاندې نیغ په نیغه غبرګون وښيي( پنځم شکل وګورئ). د ۲۰۱۰ او ۲۰۱۲ کلونو ترمینځ د بزګرانو یوه بله څپه د مرکزي هلمند له ولسوالیو لکه نادعلی او مارجې څخه را کډه شول ترڅو د حکومت له خوا پرتریاکو باندې د بندیز له اغیزوڅخه وتښتي.

له لیرې پرتو ولایتونو لکه غزني او وردګ څخه ډیرلږ کسان دغې سیمې ته اصلاْ د ختیځو خښتو د کورونو د جوړولو د ما هرو کارګرانو په توګه راغلل، خو حتا دوي هم په سیمه کې اړیکې درلودې، اوروسته ئې د کوکنارو د کرکیلې لپاره ځمکې ترلاسه کړې.

**پنځم شکل: د ځمکې د شتمنۍ پراساس په بکوا کې د میشت کیدلو کال (۲۵۷)** [۴۸]




د بغرا د کانال شمال خواته د ځمکو پرخلاف، د بکوا ځمکې په لویه کچه پلورل شوي نه دي. په حقیقت کې، له لومړنۍ خرڅونې څخه وروسته چې د خپلو ځمکو د ودانولو د تمویل لپاره ترسره شوې وې، د نورزیو اصلی اوسیدونکو هڅه وکړه چې د ځمکو ملکیت بیا لاس ته راوړي. د ځمکې د پلورلوپرځای د ځمکو نورزیو خاوندانو اجاره کوونکی او د شریکی کرکیلي بزګران استخدام کړل. دغو ځانګړو بزګرانو ارزانه ماهر کار وړاندې کړ، د ربړاوزحمت په نتیجه کې ئې ځمکې اصلاح کړي، او په ځینو حالتونو کې ئې د پانګې اچونې له لیارې ځمکه په دوام لرونکې توګه ترکښت لاندی راوستله.

## ۴.۲ ارزانه او تکړه مهارت لرونکي کارته لاس موندنه

د ځمکو هغه غصب او نیوکې چې په سویل لویدیز افغانستان کې د رسمي حکومت له ویجاړیدلو وروسته رامینځ ته شوی دې خبرې ته اجازه ورنه کړه چې د پخوانیو دښتو سیمې ډیر ژر په تولیدی ځمکو بدلون ومومي. په دغو سیمو کې کرنیز تولید ډیره پانګه غواړي او د ژورو څاګانو کیندل له ۲۰۰۰ تر ۵۰۰۰ ډالرو لګښت په کارلري. تریاک چې په نوموړو ځمکو کې یوازنی د پام وړ محصول دی او په کرنیزې سیمې باندې د ځمکی د بدلون لګښت برابروي، ډیر کارته اړتیا ده او ځینی وخت هرهکتار ځمکه ۳۲۰ کارګرانو ته اړتیالري. په دې توګه هم پانګې او هم کارته اړتیا لیدل کیږي.

په بکوا کی، د نورزي ټبر په مینځ کې د ځمکې د مالکیت تمرکز، او په ځمکه باندې د اصلي اوسیدونکو د ملکیت کچه، د دښتو په ځمکه کې د میشتیدلو په لومړیو کلونو کې د کرنیز تولید مخه ونیوله. ددې ستونزې د حل لپاره، د ځمکې د اجارې ترتیبونه برابر شول ترڅو چې د پخوانیو دښتو په سیمه کې د پانګونې ملاتړ وشي. ددغه کار لپاره د لخه مکانیزم چې پراساس ئې د پنځو کلونو په اجارې هوکړه کیږي او اجاره نیونکی بزګر د کلني تولید لګښت په غاړه اخلي خو د ځمکی خاوند ته د وروستي حاصل یوازې یوه – شپږمه یا یوه – اوومه برخه ورکوي.

۴۸ په پورتنی شکل کې په بکوا کې ټول ځواب ورکوونکي شامل نه دي ځکه چې دیرو کسانو ( ۷۹) د یوه کال میشتیدل تایید نه کړل. دغو ځواب ورکوونکو ویل چې « د همدي کلي دي» او « تل یې دلته ژوندکړی دی» او په دی توګه ئې دا سیمه ایزه ادعا تائیدوله چې د دښتې ځمکې چې د کاریز له لیارې ئې د کلي خړوبی شوې ځمکې احاطه کړې دي تل په دوی پورې اړه درلودلې ده.

په داسې هوکړه کې، د ځمکې خاوند د اجارې په پیل کې د ژورې څاه د جوړولو او جنریټر لګښت په غاړه اخلي. دا د اجاره کوونکي مسئولیت ده چې ځمکه پاکه او هواره کړي، خاوره اصلاح او کرونده یوه تولیدي تشبث ته واړوي. د اجارې په پوره کیدو سره، اجاره کوونکی مکلف دی چې د ژورې څاه د کارکولو او کرنو په اړه د ځمکې خاوند ته ډاډګیرنه ورکړي.

دا داسې هوکړه ده چې کیدای شي د دواړو خواوو په ګټه وي. د لږ ځمکې خاوند اجاره کوونکی بزګرو لپاره د لخه سیستم ځمکې ته لاسرسي برابروي. داسې بزګران کولای شي په ځمکه کې هم خوراکي او هم نغد کښتونه وروزي، خپلې کورنۍ او څارویو ته اوبه برابرې کړي، یو کور او کرنیز عاید ولري چې په ډیرو کلونوکې د تولید له لګښت څخه لوړ وي.


په همدې ډول، د ځمکې خاوند که څه هم په لومړیوپنځو کلونو کې لږ عاید لري، خو د هوکړې په پای کې یو بشپړ تولیدی فارم لاس ته راوړي چې کولای شي په شراکت سره ئې د تریاکو له وروستني حاصل څخه په یوه – پنځه برخه یوه بزګرته ورکړي.

د هلمند د بغرا په شمال کې، د لخه سیستم اجاره ډیر لږ تر سترګو کیږي، خو پرځای ئې داسې هوکړه په سیمه کې د کوچنیو ځمکو لرونکو او ارزانه کار د ډیروالي پایله ګڼل کیدای شي. دلته د شریک کښت بزګران په نسبي توګه ارزان کار هغو ځمکو لرونکو ته وړاندي کوی چې ډیره پانګه لري، او د هلمند کانال د خړوبو ځمکو د دوه – دریمې برخې په پرتله، هغوی ته د تریاکو د وروستي حاصل څلور- پنځمه برخه ورکوي.

په ځانګړې توګه، هغه کسان چې د بغرا په شمال کې د دښتو ځمکې په لاس کې لري، په هلمند کې د کانال په وسیله په خړوبو شوو سیمو کې د حکومت او مرستندویانو له خوا له مداخلو څخه، په تیره بیا له HFZ څخه پوره ګټه پورته کړې ده. په هرصورت HFZ ـ د مخدره توکو پرضد د انګلستان او متحده ایالاتو لخوا تمویل شوی هڅه – وه چې د غنمو د کښت په پراخوالي ئې ټینګار کاوه او له ۲۰۰۸ کال وروسته ئې د لږو یا کمو ځمکو بزګران اړ کړل چې د کانال سیمې پریږدي. (شپږم شکل وګورئ). د کانال د قومنداني په سیمه کې چیرې چې یووخت ډیر کارته د اړو کوکنارو کښت منع شو – د ځمکې د نه پیدا کیدلو په سبب دغو بزګرانو او د دوي کورنۍ د بغرا د کانال په شمال کې د دښتو په ځمکو کې چیرته چې د هغوی ګډ کښت او اجارې سیستم ته تقاضا موجوده وه، میشت شول. هغوي چې ځمکې ته لیوال وو، د تریاکو د وروستي حاصل په کوچنی برخې ئې قناعت وکړ چې له بندیز څخه پخوا یې د کانال د قومندانی په سیمه کې لاس ته راوړل ۴۹.


د ارزانه او په نسبي توګه مهارت لرونکي کار هجوم (برید ) هم د کرنیزې ځمکې کچه پراخه او هم ئې د کوکنارو او تریاکو سلنه لوړه کړه. په دې توګه د ۲۰۰۸ او ۲۰۱۲ کال په مینځ کې، د بغرا د کانال په شمال کې ترکښت لاندې ځمکه دوه برابره شوه، چې په لویه برخه کې ئې د تریاکو کوکنار کرل شوي وو. (اووم شکل ووینئ)

**شپږم شکل د بغرا په شمال سیمه کې د میشتیدو کال، د ځمکې د نیولو پر اساس( ۷۴۲n )**




۴۹ منسفیلډ، « له بدخخه بدتر» ۵۱

اووم شکل: د کرنیزو ځمکو ډیریدل، د بغرا شمال، هلمند ۲۰۰۳-۲۰۱۲



# ۵. په کلانو باندې د دښتو په بدلونو کې د پانګونې ونډه

د سویل لویدیزې دښتې ځمکو بدلون چې په ځمکه کې ئې د میشتیدلو او له کار څخه د ګټې اخیستنې اړتیا را مینځته کړې وه، په عین حال کې د پانګونې اړتیا هم را برسیره کړه. نا قانونه تریاک د دغې پانګې سرچینه شمیرل کیږي: نوموړې سرچینې د ژورو څاګانو د کیندلو لپاره چې د پخوانیو دښتو د ځمکو ترکرنې لاندې را وستله، او د دې څاګانو د عادي لګښتونو او د راتلونکو کلونو د حاصلاتو د کمیدلو په اړه نوښتونو لپاره ډیر اهمیت لري، لومړنۍ پانګه چمتو کړی ده. له ناقانونه تریاکو څخه پرته، دا ځمکې شاړې پاتې کیدې او هغه نوښتونه به چې د ځمکې د بدلون او په هغوکې د نفوس د میشتیدلو لپاره اړین ګڼل کیدل عملي شوي نه واي.

## ۵.۱ ناقانونه تریاک د پانګونې د سرچینې په توګه

داسې مالومیږي چې په ۱۹۹۰ کلونوکې د افغانستان د سویل لویدیز دښتو په ځمکوکې لږ خلک میشت شوي دي. په داسې حال کې چې د څاګانو تش منځې او سطحې ټکنالوژۍ شتون درلود او د ۱۹۹۰ کلونو په وروستیو کې د کندهار ولایت د پنجوائې او ژهرې سیمو په وچو برخوکې د کانال په واسطه خړوبیدو لپاره ور څخه کار اخیستل کیده، د بکوا او د بغرا په شمال کې میشتیدل له یو څو کورنیو پرته د ټولو خلکو لپاره محدود وو. ددې موضوع یو لامل دا وو چې ۱۹۹۰ کلونو کې د تریاکو بیه یوازی یو کیلو په ۳۰ امریکائي ډالرو وه . په ۲۰۰۰ – ۲۰۰۱ کلونو کې په تریاکو باندې د طالبانو تر بندیز وروسته او تر ۲۰۰۴ کال پورې د تریاکو د پرله پسې لوړ نرخ ددې سبب شو چې په کرنیزو ځمکو د دښتو د سیمو بدلون د یوې ارزښت لرونکې موضوع بڼه غوره کړي. کله چې د یوه کیلو ګرام تریاکو بیه له ۲۰۰ ډالرو څخه واوښته نو په ځمکه – تش منځې او سطحی څاګانو – او وروسته په ژورو څاګانو کې پانګونه پیل شوه ، چې پرته له هغې دې امکان شتون نه درلود چې د ځمکې کرکیله دوام وکړي.

په بکوا کې، د کاریز له خوا په خړوبه شوو سیمو کې د کرکیلې د پرله پسې ناکامۍ په غبرګون کې چې د ۱۹۹۲ کال د وچکالۍ په پایله کې رامینځ ته شوي وه، لومړي سطحي څاګانې وکیندل شوي. د وچکالۍ په خورا لوړ وخت کې، یوازې د بکوا په سیمه کې نږدې ۵۰۰۰ سطحي څاګانو شتون درلود.

بزګران وایي چې دغه څاګانې ددې لامل شوي چې د اوبو سطحه لا ټیټه شي، کاریزونه په بشپړه توګه وچ شي او د اوبو شتون بې اعتباره شي. په هرصورت، په داسې حال کې چې د عادي څاګانو د اوبو د سطحې ټیټیدلو د بکوا په اصلي میشت شوو کلیو کې د کرنیز تولید ملاتړته دوام ورکړ، او په دښتوکې ئې کرکیله تر یوې کچې پراخه کړه، په تیره لسیزه کې د افغانستان په سویل لویدیز او دښتوکې د ژوروڅاګانو د ټکنالوژۍ معرفی کیدلو له ځمکو څخه ګټه اخیستل په دراماتیکه توګه آسانه کړل. په سیمه ایزه توګه، بزګران راپور ورکوي چې نوموړې تکنالوژی د څاګانو د برمه کولو، واټرپمپونو او جنریټرونو له پوهې سره د غیر دولتي موسسو او سیمی نفوس له خوا د ۲۱مې پیړۍ په پیل کې را وړل شوه چې په بلوچستان کې ئې د مهاجرو په توګه ژوند کاوه.

کله چې دا ټکنالوژی د لاسرسۍ وړ شوه، بزګرانو د ژورو څاګانو د کیندلو مالی لګښت په خپله غاړه واخیست. په هرحال، ددې ډول څاګانو کیندل ارزانه نه وو او د پیل پانګونې، او همدا ډول د عادي لګښتونو د پوره کولو لپاره ئې عوایدو ته اړتیا لرله. په بکوا کې څاګانې په ځانګړې توګه ژورې دي، ژوروالۍ ئې له ۱۰۰ تر ۱۲۰ مترو پورې دي. په ځینو سیموکې دا ژوروالی د بغرا د دښتو په شمال کې د څاګانو د ژورتیا نږدې دوه چنده دی. د ډیزلي ژورې څاه جوړول په نمونوي ډول د سیمي د اټکل پربنسټ، ۱۷۰۰ ډالره لګښت لري او کولای شي ۲۰ جریبه ځمکه خړوبه کړي **۵۰**.

په بیا پیښیدونکو لګښتونو کې نه یوازې د ډیزلو بیه، بلکې همدا ډول د واټر پمپونو او پایپونو د جوړولو او نوی کولو لګښتونه هم شامل دي چې د ۲ کلونو لپاره کارکوي. په دې توګه جاري او عادي لګښتونه یوازې ددغو توګو لپاره په کال کې ۱۰۰۰ ډالرو ته رسیږي.


نو ځکه، د څاه د کیندلو او نورو وسایلو له رانیولو څخه وروسته، د پخوانیو دښتو په سیمه کې کرنیز تولید ، ګران پاته کیږي.

له کوکنارو پرته داسې کرنیز حاصلات شتون نه لري چې د پخوانیو دښتو په سیمه کې د تولید بیه پوره کړي. د بغرا په شمال کې د غلې تاریخي نقشه ښیي چې د کوکنارو مسلط کښت څنګه په هرکال کې ترکښت لاندې ډیرې ځمکې لاندې کوي. **۵۱** ( اتم شکل وګورئ )

۵۰ منسفیلډ او پ. فیشستین، « د تګ وخت: په افغانستان کې د بدیل انکشاف لپاره بدیله پرمختیا»، (کابل، د افغانستان د څیړنې او ارزونې اداره، ۲۰۱۲):۲۰

۵۱ منسفیلډ ، «دله بد څخه لا ډیر بد» ۴۹


اتم شکل: په شنه جمه کې د محصول نقشه، د بغرا شمال، هلمند ، ۲۰۰۸ – ۲۰۱۷



په هرحال، له **۲۰۱۳** کال څخه راهیسي، د کوکنارو او تریاکو د کښت ګټه تر ګوابښ لاندې ده. د آفت او مرض په سبب، او په **۲۰۱۴** کال کې د ډیزلو د بیې دوه برابره لوړېدل، ځینې بزګران له ضرر سره مخامخ شوي دي ( منسفیلډ او فیشستین، **۲۰۱۲ : ۲۸** ) [52] . بزګران اړشوي دي چې له ځینو ګډ کښت کوونکو او اجاره کوونکو سره یوځای د کانال په سیمو کې چیرې چې د بهرنیو ځوا کونو له بیرته تګ څخه وروسته د کوکنارو کښت بیا را ژوندی شوی دی، بیا میشت شي او د کانال له خوا په خړوبو شوو ځمکو کې د کوکنارو د کرکیلې لپاره بیا ځمکه پیدا کړي، نورو- په تیره بیا د ځمکو خاوندانو – په نوې ټکنالوژۍ کې پانګونه کړې ده تر څو عادي لګښت کم او اقتصادي وړتیا رامنیځته کړي.

۵۲ منسفیلډ او فیشستین. « دخوځیدو وخت» ۲۸.

نهم شکل: د افغانستان په سویل لویدیزو دښتو کې د اوبو د ذخیرو (اولمریزي انرژۍ د ژوروڅاګانو) د شمیر ډیروالی، ۲۰۱۲ – ۲۰۱۷ کال



تر يوې کچې، د لمريزې ټکنالوژۍ چټک پرمختګ د چين د ښې تکنالوژۍ د شتون له امله وو. يوازې د څلورو ورستيو کلونو په موده کې د لمريزو تختو بيه له نيمايي څخه ډېره کمه شوې ده **۵۳**. په همدې توګه د لمريزو سيستمونو پلورونکي چې دغه توکې ئې توليدول، هم ډېر شوي وو ځکه چې د افغانستان ځينې ليرې پرتې سيمې د سړکونو، مخابراتو او ټرانسپورت د ښه والي له کبله په بازارونو پورې ښښلول شوې وې. په داسې حال کې چې په **۲۰۱۳** کال کې د هلمند او بکوا کروندګر اړ وو چې د لمريزې ټکنالوژۍ د رانيولو لپاره کندهار ته تللي وای، «اوس سوداګر دغه توکې په کلي کې خرڅوي». همدا اوس په نوموړو سيمو کې ملاتړي خدمتونه د تجربه لرونکو انجينرانو په توګه شتون لري چې د لمريز سيستم درول ترسره کړي. ددغه سيستم له درولو (نصب) سره سم د عادي لګښت کچه را ټيټيږي او د ډيزلو د څاګانو د بياجوړولو د ستونزو په پرتله د ساتنې او څارنې لګښتونه په لويه کچه کميږي.

هغه وخت چې لمريز سيستم په لومړيو وختونو کې رواج شو، بزګرانو ۲۰ دانې کوچني **۱۵۰** امپيره (**۱،۵** متره) تختې د ژوروڅاګانو څخه د ګټې اخيستلو لپاره، په کار واچولې. په **۲۰۱۲** کال کې ډيرې لويې، **۳۰۰** امپيره (**۲،۵** متره) تختو څخه کار اخيستل کيده.

کروندګر وايي چې دا ډول **۳۰** تختې ډيره بريښنا توليدوی او د ډيرو اوبو د پمپ کولو ځواک لري، چې د اوبو د سطحې د را ټيټيدلو په وخت کې يو امتياز ګڼل کيږي. کيدای شي چې نور نوښتونه د لمريزو تختو د درولو په ډول کې وليدل شي. کله چې يوځل لمريزه تخته د کور د بام پرسر په ناترلي ډول ودرول شي، نو کيدای شي پنځه يا شپږ غټ فلزي چوکاټونه هم ور سره کيښودل شي. کيدای شي دغه چوکاټونه د لمر له وړانګو څخه د ښې ګټې اخيستلو په منظور د ورځې په اوږدو کې وڅرخول شي. په دې وروستيو کې تکنالوژيکي ودې يوځای اومدغم شوي سيستمونه رامينځ ته کړي دي. په دغو سيستمونوکې په بتريو کې د لمريزې بريښنا د ذخيره کولو ځواک هم شامل دی چې لمريزه انرژي ډيره زړه وړونکې او باوري کوي. پايله داچې د **۵۰۰۰** ډالرو په شااوخوا کې له لومړني لګښت وروسته، کيدای شي له لمريزي تکنالوژۍ څخه د ډير لږ عادی لګښت له لياري ګټه پورته شي (لومړی جدول وګورئ)

**۵۳** د ۲۰۱۷ کال د مې په مياشت کې د ۳۰۰ امپيره لمريزې تختې بيه ۷۵۰۰ افغانۍ وه، په داسې حال کې چې په **۲۰۱۳** کال کې په بکوا کې د **۱۵۰** امپيره لمريزی تختی بيه ۸۰۰۰ افغانيوته رسيدله.

لسم شکل: د لمریزې برېښنا د ځاګانو یوه زیرمه چې د هلمند په ولایت کې د بغرا د شمالي ځمکو د اوبو لګولو لپاره په کارېږي



لمړی جدول: په ۲۰۱۷ کال کې په هلمند کې د ژورې څاه لپاره د لمریزې برېښنا د درولو بیه

| د جنس نوم | د هرواحد بیه | د واحدونو شمیره | مجموعه (PR) | مجموعه ( امریکایي ډالر ) |
|---|---|---|---|---|
| واټرپمپ | ۴۵۰۰۰ | ۱ | ۴۵۰۰۰ | ۴۱۰ |
| پلاستیکي پایپونه | ۲۲۰ هر متر | ۳۰ | ۲۲۰۰ | ۲۰ |
| ټرانسفرمر | ۲۲۰۰۰ | ۱ | ۲۲۰۰۰ | ۲۰۰ |
| لمریزې تختې (۳۰۰) امپیره | ۱۴۰۰۰ | ۳۰ | ۴۲۰۰۰۰ | ۳۸۱۸ |
| برقی سیم | ۳۰۰۰ بنډله | ۲ | ۶۰۰۰ | ۵۵ |
| چوکاټ | ۸۰۰۰ | ۵ | ۴۰۰۰۰ | ۳۶۴ |
| نصب او درول | ۶۰۰۰ | ۱ | ۶۰۰۰ | ۵۵ |
| مجموعه | | | ۵۴۷۲۰۰ | ۴۹۲۰ |

په داسې حال کې چې په تکنالوژۍ کې سمون او د هغې شتون د نوښت لپاره د بزګرانو ملاتړکړې دي، د نوي تکنالوژۍ پلی کول، د پخوانیو دښتو په سیموکې کښت د ډېریدونکو چاپیریالي او اقتصادي ستونزو له امله له ۲۰۱۳ کال څخه راهیسې، په تیره بیا د ډیزلو د بیې د بی ثباتۍ ، د اوبو د ټیټیدونکې سطحې له کبله د اوبو د پمپ کولو د لوړیدونکې بیې، او د تریاکو د کمزوري حاصل په پایله کې را ټیټ شوی دی. دغه لاملونه ددې سبب شول چې بزګران د تریاکو په حاصل کې د ضرر د خطر د کمولو لپاره په هغه موده کې چې د ناروغی (آفت) او کښت د نه بریالیتوب ترمینځ مناسبه سیالۍ ښکاري، د حل لیارې ولټوي. د بیلګې په توګه د بکوا کروندګرو ادعا کوله چې له ۲۰۱۱ کال څخه را هیسې ئې د تریاکو ښه حاصل لاس ته نه دی را وړی او په ۲۰۱۷ کال کې ئې له هر جریب څخه یوازې ۵،۰ کیلوګرامه تریاک ترلاسه کړي دي. د هلمند د پخوانۍ دښتې په سیمه کې له ۲۰۱۲ کال څخه راهیسې بزګرانو څلور پرله پسې کمزوري او نا کامه حاصل اخیستي ده، او په ۲۰۱۵ کال کې ئې له یوه هکتار ځمکي څخه ۱۱،۲۵ کیلو ګرامه حاصل ترلاسه کړی دی. له ۲۰۱۲ کال څخه راوروسته د تریاکو حاصل ښه والی وموند اوله یوه هکتار څخه له ۲۲،۵ تر ۴۵ کیلو ګرامه پورې حاصل واخیستل شو. په ۲۰۱۷ کال کې یوې هکتار ځمکې ۲۷،۵ کیلوګرامه حاصل ورکړ چې ډیروکروند ګرو د « ښه کال» په نوم یاداوه.

په سویل لویدیز دښتو کې د کوکنارو او تریاکو په کښت کې یو بل نوښت رامینځ ته شو چې د زیان رسونکو واښو درملنه ګڼل کیږي. په ۱۹۱۷ کال کې د زیان رسونکو واښو پرضد درمل د هلمند او بکوا د کوکنارو په ټولو کښتونو کې استعمال شول، په داسې حال کې چې په ۲۰۱۳ کال کې بزګرانو له نوموړو درملو څخه یوازې د تجربې په ډول کار اخیستی وو. دلته هم یو چټک پرمختک تر سترګو کیده. په لومړیوکې بزګرانو په پراخه کچه له واښه وژونکو درملو – لکه پاراکت (Paraqet) او ۲,۴D – څخه کار اخیسته او هغه ځانګړې بوټي چې غوښتل ئې وساتل شي په خاورو یا د درملو د بوتلونو په پوښلو باندې، پټول. دا ډول درمل چې په ایران، پاکستان او چین کې جوړیدل په سیمه کې د « پټې دوا » په نوم یادیدل. د ۲۰۱۵ کال په را رسیدو سره د ځانګړو بوټو درمل لا ډیر رواج شول. داسې درملو لکه توپیک هم شتون درلود چې د پلنو پاڼو درلودونکې بوټي لکه کوکنارئې نه وژل نو ځکه کروندګر اړ نه وو چې ځانګړي بوټي خوندي وساتي. دا ډول درمل چې په ټولیز ډول د « لوڅی دوا» په نوم

یادیدل، په ځانګړي ډول له چین څخه راتلل او د زیان رسونکو بوټو د لیرې کولو ( خیشاوی ) وخت ئې ډیر لنډ اوه.

د آفتونو ضد درمل هم په ۲۰۱۲ کال کې ولیدل شو او کروندګرو به ویل چې « هرکال یونوی کیمیاوي توکی بازار ته راځي». ددغو درملو په ډیرو لیبلونو باندی د کوکنارو انځورونه لیدل کیدل، او په نورو کې په خاصه توګه هغو حشراتو او ناروغیو ته اشاره کیدله چې درمل ئې د وژلو لپاره جوړ شوي وو. په دې توګه درمل د سیمه ایز چاپیریال لپاره جوړیدل او په دري او پښتو ژبو لیبلونو سره خرڅیدل. ځینې درمل لکه « ګندم کش» ( دغنمو وژونکي ) « کروز» ( ویشتونکي اسلحه ) او « ځانمرګي» ( ځان وژونکو ) په نومونو یادیدل.

که څه هم نوښتونه چټک دي او له کروندګرو سره مرسته کوي چې د تریاکو د حاصل له رالویدلو سره مقاومت وکړي، د پخوانیو دښتو په ځمکو کې د نوي ټکنالوژۍ پلې کول لا ډیره نابرابری رامینځ ته کوي. د زیان رسونکو واښو لپاره د درمل استعمال د زیان رسونکو واښو د پاکولو په موسم کې د کار او شریک کښت لپاره تقاضا کموي. په بکوا کې همدا اوس داسې نښې نښانې شتون لري چې لمریزې ټکنالوژۍ د هغو بزګرانو شمیره کمه کړې ده چې ځمکې ئې د لخه په مناسبو شرطونو نیولي دي. کله چې د لمریزی انرژۍ سیستم نصب ودرول شي، نو د ځمکو خاوندان

ليوالتيا نه لري چې د شراکت پربنسټ بزګران د نهائي حاصل د يوې – اوومې برخې پراساس استخدام کړي. دا موضوع د ډيزل د انرژي د ژورو څاګانو په صورت کې چې لوړ بيا پيښبيدونکي لګښتونه لري، صحيح ده، خو په لمريز سيستم کې د ځمکو خاوندان کولای شي شريک کروندګر استخدام، او په داسې حال کې چې نږدې هيڅ ډول بيا پيښبيدونکی لګښت نه لري، د وروستی حاصل څلور ـ پنځمه برخه لاس ته راوړي. د بيلګې په توګه، په بکوا کې د ځمکو يوه خاوند درې ډيزلي څاګانی درلودې، چې هرې يوې ئې د لخه د سيستم پراساس د شريک بزګر له خوا د **۹** کلونو لپاره په کار واچول شوې. د **۲۰۱۲** کال په مني کې د ځمکو نوموړي خاوند يو سيستم لمريزې تکنالوژۍ ته واړاوه. د دې ترڅنګ د ځمکې خاوند يو شريک کروندګر د يوی – پنځمې برخی د شراکت پراساس استخدام کړ چې پرځمکې باندی کاروکړي.

په ټوليزه توګه په **۲۰۱۷** کال کې په بکوا کې د لخه د سيستم پراساس د استخدام شوو کسانو **۲۵** سلنې يوه ډيزلي ژوره څاه درلوده. دا اټکل کيږي، کله چې لمريز سيستم ډير عام شي ډير بزګران به په ګډو کرکيل کوونکو واوړي چې د نهائي حاصل يوازې يوه – پنځمه برخه به ترلاسه کوي.

احتمال لري چې لمريزه تکنالوژي د نابرابری کچه لوړه او په راتلونکي وخت کې د لږ ځمکو خاوند بزګرانو وړتيا د دښتو د ځمکو په رانيولو کې په تيره بيا په هغو کلونوکې چې د ترياکو حاصل په پرله پسې توګه ټيټ وي، ډير لږکړي. هغه کسان چې لږ ځمکه لري ددې ځواک نه لري چې د کښت وړځمکه د داسې زيرمې د ودانولو لپاره استعمال کړي چې ۱۰۰۰ متر مربع پراخه وي، البته د لږ او نه بسيا پانګې لرونکي – او په همدې ډول بې وزله ځمکې لرونکې بزګران – ددې ځواک نه لري چې د لمريزی انرژۍ ژورې څاګانی وساتي. نوې تکنولوژۍ ته په پاملرني سره ډيزلي څاګاني د ډيزلو د بيې د بې ثباتۍ له کبله ډيرې زيان منونکې دي. دغه ډول څاګانې د ټيټ کيفيت ډيزلو د استعمال په سبب ژرژر خرابيږي، نو ځکه ډير لګښت په کارلري. داسې تمه کيږي چې د **۲۰۱۷** کال په دوبي کې په هلمند کې د لمريزو تختو خرڅلاو ډيرشي، او د سيمی خلکو د درک او پوهې پربنسټ د کوکنارو او ترياکو د ښه حاصل په پايله کې، يوازې بی وزله بزګران اړدي چې په راتلونکي وخت کې ډيزلي جنريټرونو څخه ګټه پورته کړي.

دلمريزې ټکنالوژۍ بالقوه وړتيا هغه اغيزه ده چې تر ځمکې لاندې اوبو باندې ئې لري، په **۲۰۱۷** کال کې بزګرانو څرګنده کړه چې د اوبو سطحه په کال کې له يوه تر دوومترو ټيټيږی په داسې حال کې چې په **۲۰۱۵** کال کې د لمريزې انرژۍ د ژورو څاګانوله رواجيدلو څخه پخوا د اوبو د سطحې د ټيټيدلو کچه په کال کې يوازې له **۵**،۰ څخه تريوه متره پورې وه. په هلمند او بکوا کې دا ويره خپره ده چې د لمر د انرژۍ د څاګانو اوسنۍ وده به په کرنيز توليد او په دغو ځمکو کې د دوی په اوسيدلو باندې اوږد مهاله ويجاړونکې اغيزه ولري. د پخوانيو د ښتو په دغو ځمکو کې د نفوس اوسنۍ کچې ته په پاملرنې او همدا ډول په عمده خړوبو ( اوبولرونکو ) درو کې د کرنيزې ځمکې لږوالي ته په کتوسره مالومه نه ده چې په کرنه کې د بيا بيا نه برياليتوب په صورت کې به اوسني ميشت شوي وګړي کومې خواته ځې او څنګه به د ترياکو د حاصل د بيا بيا نه برياليتوب په صورت کې د توليد لګښتونه پوره کوي.

په داسې حال کې چې اوس ناقانونه ترياک بزګرانو ته دا توان ورکوي چې په نوو ځمکو کې ميشت شي، د ژوند لګښتونه پوره کړي او د بيا پيښبيدونکو لګښتونو لپاره بسيا عايد ترلاسه کړي، بايد دې خبرې ته هم پاملرنه وشي چې مخکې له دې چه اوبه د وچيدلوخواته مخه کړي، دا وګړي به ترکومه وخته همدي ډول ژوند ته دوام ورکوي.

# ۶. پایله

لکه چې دا لیکه ښیي، ناقانونه تریاک د افغانستان په سویل لویدیزو پخوانیو دښتوکې د اقتصادي ودې او نوښت وړاندنی برخه جوړوي. په داسې حال کې چې د کابل د حکومت او مرستندویانو له خوا پخوانیو د ښتو ته د حاشیوي، لیرې پرتو او بی واکه چاپیریال په توګه کتل کیږي، د دښتو دغه سیمې د افغان دولت په سرحد کې له ډ برینو ، شګو څخه ډکو ، نه کرنیزو ځمکو څخه د ودې د ماشین پر داسی یو ځای بدلون ومومي چې کیدای شي هغه کسان پکښې میشت شي چې د مرکزي دولت له هر ډول پرمختیا څخه محروم شوي دي.

د دغو پخوانیو دښتو بدلون د لید وړ او له تعجب څخه ډک دی. د یوې لسیزې په موده کې ۴۰۰۰۰۰ هکتاره ځمکه یوازې د هیواد په سویل لویدیزکې ترکرنیز تولید لاندې راغلې ده. دا پیښه د دولت له خوا د تمویل شوي اوبو لګولو سیستم په توګه را مینځ ته شوې نه ده چې موږ پخوا په افغانستان کې لیدلې دي، بلکې پخپله د کروندګرو ټولنو د ډله ایز او انفرادی کار پایله ګڼل کیږي. په لومړي سرکې د دښتو ځمکې په سیمه کې د ځواک د دلالانو له خوا غصب او وروسته د هغو په ملاتړو باندې وویشل شوې. په ځمکه باندې پانګونه د ځانګړو کسانو له خوا رد شوی ده. اصلاح شوي ټکنالوژۍ ته لاسرسی د ځمکې لاندی اوبو څخه د ګټې اخیستنې زمینه برابره کړه، د لمریزې ټکنالوژۍ او درملو په بڼه کې ډیرو پرمختګونو اونوښتونو له کروندګرو سره مرسته وکړه چې د حاصلاتو د کمیدلو او د تولید د لګښت په وړاندې غبرګون وښیي. د تریاکو ناقانونه کښت او حاصل او د بیې اضافه ارزښت چې له نوموړې کرنې څخه لاسته راته ، ټولې پرمختیاوې تمویل کړې. دا موضوع د سرحد په ځمکه کې د میشتیدلو اوکرنیز بدلون سبب شوه چې په بل ډول ئې ترسره کیدل شوني نه بریښیدل.

دا خبره ممکنه ده چې په لمریزې ټکنالوژۍ او د وښو په درملو کې د نوو پرمختګونو په سبب، د پخوانیو دښتو د سیمې د نور پرمختګ عوامل برابرکړي او پانګه د څو محدودو ځمکه لرونکو په لاسونو کې ورځ په ورځ لا ډیر تمرکز ومومي او د ځمکو اجاره کوونکو یا مزد اخیستونکو لږ ځمکو بی وزله بزګرانو لپاره د فرصتونه د لږوالي عوامل برابر شي. په دی توګه، دا ګواښ شتون لري چې د پخوانیو دښتو داسیمې به نور د وګړو د حذب پخوانۍ وړتیا ونه لري او د اجاره کوونکو او شریکو کروندګرو مخ په زیاتیدو شمیره به د بغرا او بکوا له سیمو څخه بیرته خپلو کلیوته ولاړ شي. په هلمند کې دا امکان شتون لري چې خلک د لشکرګاه، نادعلی او مارجې ولسوالیو ته چې ځمکې ئې د کانال له خوا خړوبیږي، واوړي او په دې توګه ددې سبب شي چې دا سیمې یو ځل بیا د تریاکو او تریاکو په لویوکښتونو بدلې شي. کیدای شي چې له بکوا څخه راستانه شوي کسان د فراه ولسوالۍ او مرکزي هلمند ته ولاړشي. د هغو کسانو لپاره چې هیله لري د تریاکو کوکنارو کښتونه له مینځه ولاړ شي د اوبو د سطحې له رالویدلو پرته چې د اقتصاد دویجاړیدلو لامل ګرځي، بله هیله شتون نه لري.

# د کتابونو لړلیک

بوډنبرګ، د . بایرد ، ډبلیو ، (Eds) په افغانستان کې د مخدره توکو صنعت: جوړښت، فعالیت او د هغو په وړاندې د مبارزې د پالیسي استدلال او اغیزې. کابل: UNODC/ نړیوال بانک، ۲۰۰۷.

بایرد ، ډبلیو ، ای. « په افغانستان کې د تریاکو د اقتصاد د ستونزې په وړاندې غبرګون: له پرمختیائي لید څخه درسونه او ښوونه.» د پالیسي څیړنې کاري لیکنه ۴۵. واشنګتن دي سي: نړیوال بانک، ۲۰۰۸.

بایرد ، ډبلیو. ای، او جنګلیز، « د تریاکو په اقتصاد کې د بیو او بازار متقابل عمل.» په افغانستان کې د مخدره توکوصنعت: جوړښت، فعالیت او د هغو په وړاندې د مبارزې د پالیسي استدلال او اغیزې. د دوریس بودنبورګ او ویلیام بایرد سمونه. کابل: UNODC/ نړیوال بانک، ۲۰۰۷.

جیوستوزي. ای. « په افغانستان کې د ځواکمنانو د جګړې او سولې اقتصاد.»: نړیواله سوله ساتنه۱۴، شمیره ۱ (۲۰۰۷) ۷۵- ۸۹.

ګوس، ب. جي، یو، ان. پاراجولي، م. حق، او آر. بي. واردلا.« د هلمند د سیند په غاړو کې د کاریز ( قنات ) اوبه لګول، افغانستان: یو له مینځه تلونکی میراث.» د هایدرولوژي مجله/ شمیره ۲۵. ۲ ( ۲۰۱۷ ): ۲۲۹- ۲۸۲.

ګوډهنډ ، جي. « یاغیان، د سرحدځمکې او د تریاکو جګړې. له څنډو څخه د افغانستان دولت جوړونې ته کتنه.» د DIES کاري لیکنه، ۲۰۰۹.

ګوډهنډ ، جي. د بدلونونو لپاره هڅې: نړیواله تسویه او په افغانستان کې راتلونکی دولت.» په ناروې کې د سولې جوړونې د سرچینو مرکز. ۲۰۱۲.

جلسما، ام. « د طالبانو له خوا د تریاکو د بندیدلو درسونه. » د مخدره توکو د پالیسي نړیواله مجله ۱۲ ( ۲۰۰۵ ): ۹۸- ۱۰۳.

مکدونالد ، دي. په افغانستان کې مخدره توکي: تریاک، یاغیان او د لړم کیسې. لندن پلوتو چاپخونه، ۲۰۰۷. مانکین، جي. « له سیسم سره لوبه: په افغانستان کې تریاک ځایي ځواک څنګه پیاوړي کوي» د نړیوالو چارو مجله ۲۳، لومړی شمیره (۲۰۰۹) : ۱۹۵- ۲۰۹.

منسفیلډ ، ډي« د توکو او خدمتونو دمبادلې نه بریالیتوب: په افغانستان کې بدیله پرمختیا» د مخدره توکو د کنترول او همکارۍ په اړه د بدیل انکشاف په اړه بین المللی کنفرانس ته د لیکنې چمتوکول، فیلدافینګ، ۲۰۰۲. منسفیلډ ، ډي « څه شی د کوکنارو تریاکو کښت هڅوي؟ په افغانستان کې د ۲۰۰۳ – ۲۰۰۴ کال د ودې د فصل په اړه د کوکنارو او تریاکو د کرونکو په مینځ کې پریکړه.» د مخدره توکو د کنترول د څیړنې په هکله د UNODC/ONDCP دوهم تخنیکي کنفرانس لپاره لیکنه، ۲۰۰۴.

منسفیلډ ، ډي. « د ننګرهار او غور په ولایتونوکې د کوکنارو او تریاکو کښت: د AREU لپاره د اوبو دمدیریت، څارویو او تریاکو د اقتصاد په هکله یو څیړنیز موضوعي ریپوټ»، کابل: د افغانستان د څیړنې او ارزونې اداره، ۲۰۰۷.

منسفیلډ ، ډي: « بیا یاغیتوب او کمښت: په ۲۰۰۵ – ۲۰۰۷ کلونوکې په ننګرهار او غور کې د کوکنارو د کښت په کچه کې د بدلونونو په هکله توضیحات.» د AREU لپاره د اوبو د مدیریت، څاریو اوکوکنارو د اقتصاد لپاره یو موضوعي څیړنیز ریپوټ کابل: د افغانستان د څیړنې او ارزونې اداره، ۲۰۰۸.

منسفیلډ ، ډي. ، السیس لمیتد. ، او OSDR « د بیا پیښیدونکو او تکراري ګواښونو مدیریت: د ۲۰۰۸- ۲۰۱۱ کلونو ترمینځ په مرکزي هلمند کې د تریاکو د تولید د کمیدلو په اړه توضیح» کابل: د افغانستان د څیړنې او ارزونې اداره، ۲۰۱۱.

منسفیلډ ، ډي. لنډه لیکنه۳ : په مرکزي هلمند کې د ۲۰۱۱/ ۲۰۱۲ کلونو فصل .« د انګلستان سفارت لپاره نه چاپ شوی ریپوټ، کابل، ۲۰۱۲.

منسفیلډ ، ډي. « له بدڅخه ډیربد: د هلمند او ننګرهار په ولایتونو کې د شخړو په سیمو کې د تریاکو کوکنارو تمرکز.» کابل: د افغانستان د څیړنې او ارزونې اداره، ۲۰۱۴.

منسفیلډ ، ډي. «د شګو پرسر دولت جوړونه: تریاکو څنګه افغانستان کمزوری کړ.» نیویارک: د آکسفورډ د پوهنتون چاپخونه، ۲۰۱۷.

منسفیلډ ، ډي، او فیبشستین، پ. « خلاصې پټې سترګې: د مخدره توکو پرضد د مبارزې بدلون». کابل: د افغانستان د څیړنې او ارزونې اداره، ۲۰۱۳.

منسفیلډ، ډي او پین، اي « په افغانستان کې د مخدره توکو پرضد مبارزه: د بریالیتوب نه بریالیتوب» کابل: د افغانستان د څیړنې او ارزونې اداره، ۲۰۰۸.

مارتین، م. « یوه داخلي جګړه: د هلمند د شخړې شفاهي تاریخ. لندن. هرتس او کمپني لمیتد.، ۲۰۱۴

میکوای، ای. « د مخنیوی محرک: د مخدره توکو د نړیوالي سوداګرۍ بحران.» په خطرناک حاصل کې: د مخدره توکو کښت او د سیمه ایزو منظرو بدلون، د ستینبرګ او نورو له خوا سمونه. لندن: د آکسفورډ د پوهنتون چاپخونه، ۲۰۰۴.

د ملګرو ملتونو د مخدره توکو د کنترول پروګرام (UNDCP). « استراتیژیکه څیړنه- ۱: د افغانستان نوو ولسوالیو ته د مخدره توکو د پراخیدلو یو تحلیل.» ډي. منسفیلد، مقدماتی تحلیل، اسلام آباد: UNDCP، ۱۹۹۸.

د ملګرو ملتونو د مخدره توکو د کنترول پروګرام (UNDCP). « ستراتیژیکه څیړنه-۲: د کښت په دروازې کې د سوداګرۍ محرکه قوه او د تریاکو د سوداګرو د ستراتیژیو په وړاندې مقاومت.» د منسفیلد نهائي ریپوټ. اسلام آباد: UNDCP، ۱۹۹۸ ب.

د ملګرو ملتونو د مخدره توکو د کنترول پروګرام (UNDCP). « ستراتیژیکه څیړنه -۵: د افغانستان نوو ولسوالیو ته د تریاکو او کوکنارو د پراختیا د بهیر په اړه یو تحلیل.» د ډي. منسفیلډ دوهم ریپوټ. اسلام آباد: UNDCP، ۱۹۹۹.

د مخدره توکو او جرمونو په هکله د ملګرو ملتونو دفتر . « په افغانستان کې د تریاکو اقتصاد: یوه نړیواله ستونزه.» نیویارک: ملګري ملتونه، ۲۰۰۳.

د مخدره توکو او جرمونو په هکله د ملګرو ملتونو دفتر / د مخدره توکو پرضد د مبارزې وزارت.« د ملګرو ملتونو له خوا د افغانستان د تریاکو سروې» کابل: UNODC/MCN، ۲۰۰۴.

د مخدره توکو او جرمونو په هکله د ملګرو ملتونو دفتر/ د مخدره توکو پرضد د مبارزې وزارت. « د ملګرو ملتونو له خوا د افغانستان د تریاکو سروې» کابل: UNODC/MCN، ۲۰۰۸.

د مخدره توکو او جرمونو په هکله د ملګرو ملتونو دفتر/ د مخدره توکو پرضد د مبارزې وزارت. « د ملګرو ملتونو له خوا د افغانستان د تریاکو سروې.» کابل: UNODC/MCN ، ۲۰۱۲.

د مخدره توکو او جرمونو په هکله د ملګرو ملتونو دفتر/ د مخدره توکو پرضد د مبارزې وزارت. « د ملګرو ملتونو له خوا د افغانستان د تریاکو سروې» کابل: UNODC/MCN، ۲۰۱۴.

د مخدره توکو او جرمونو په هکله د ملګرو ملتونو دفتر.« د افغانستان د تریاکو د بیې د نظارت میاشتني ریپوټ.» کابل: UNODC/MCN، ۲۰۱۳.

د متحده ایالاتو د بهرنیو چارو وزارت، د نړیوالو مخدره توکو د ستونزو اداره. « د نړیوال مخدره توکو د کنترول د ستراتیژۍ ریپوټ» واشنګټن دي سي: دمتحده ایالاتو د حکومت چاپخونه، ۱۹۹۷.

# د غبرګون غوښتنه

AREU ډیره مینه لري چې دخپلو څیړنو ګټه اخیستونکو ته غوږ ونیسي. که تاسې زموږ د خپرونو منظم لوستونکي یاست، د AREU په وینا وو یا ورکشاپ کې موګډون کړي وي، له کتابخونې څخه موګټه اخیستې وي، یا زموږ له اداري سره مازې بلد شوی یاست، ستاسو نظرېې او غبرګون زموږ لپاره ارزښت لري.

ستاسو داسې نظرېې او غبرګونونه موږ سره مرسته کوي تر څو خپله کړنلاره په ښه توګه پرمخ یوسو، ښې څیړنې ترسره او پایلې په ښه توګه خپرې کړو. د غبرګون د رالیږلو ترټولو آسانه لیار areu@areu.org.af ته په دی بریښنالیک استولي شې.

له بلي خوا کولای شی له ۰۷۹۹۲۰۸۵۴۸ ټلیفون شمیری سره اړیکه ونیسئ. تاسو کولای شي هغه څه چې غواړې موږ ته ووایاست، خو ځینې ګټور مالومات دادي:

- له AREU سره څنګه ښکیل شوی ( د خپرونو ، غونډو اونورو لارو )
- د AREU څیړنې څخه د څه لپاره استفاده کوي.
- د AREU خپرونې څنګه لاس ته راوړی
- آیا تاسو د AREU له چاپی یا غیر چاپی څیړنو څخه ګټه پورته کړی ؟
- خپرونې څنګه کولای شي تاسوته مالومات وړاندې کړي
- زموږ د څیړنو او پایلو په اړه ستاسي نظرونه.
- د څیړنې لپاره د وړاندیز وړ سیمې.
- د AREU له خوا ستاسو د خوښې خپرونې او پیښې
- ستاسو په باور موږ څنګه کولای شو خپله دنده په لاښه توګه ترسره کړو.
- ستاسو د خوښې ساحه، استخدام یا څیړنه، او یا موقعیت

# د UERA نوې خپرونې

ټولې خپرونې د ډونلود لپاره(ښکته کولو لپاره) په www.areu.org.af کې د لاسرسی وړ دي، او ډیرې ئې د هارد کاپي(چاپي بڼه) په ډول په وړیا توګه په کابل کې د AREU له دفتر څخه لاس ته راوړلای شي.

| نیته | د خپروني نوم | لیکونکی (مولف) | په دری ژبه | په پښتو ژبه | د څیړنې موضوع | د خپرونې ډول |
|---|---|---|---|---|---|---|
| د ۲۰۱۸ اپریل | نور معیاری پروګرامونه بس دي: په ماتیدونکو شرایطو کې اقتصادي پرمختګ | SLRC | | | تولنیز ملاتړ | لنډه لیکنه |
| د ۲۰۱۸ مارچ | یوه نقشه ایزه څیړنه: په افغانستان کې د انسانانو له قاچاق سره د مبارزې بنسټیز مکانیزمونه | سوپروا نارا سیمهایا | | | ټولنیز ملاتړ | موضوعی لیکنه |
| د۲۰۱۸ مارچ | یوه نقشه ایزه څیړنه: په افغانستان کې د انسان له قاچاق سره د مبارزې بنسټیز مکانیزمونه | ولی محمد کنډیوال | √ | √ | ټولنیز ملاتړ | د پالیسي یادښت |
| د ۲۰۱۸ جنوري | ښاري خوندیتوب: په افغانستان د ښاري سولې جوړونې پروګرام ته بیا کتنه | یما ترابي | √ | √ | ټولنیز ملاتړ | د پالیسي یادښت |
| د ۲۰۱۸ جنوری | په افغانستان کې د میشتو کوچیانو د شخړو ډولونه | انتونیو ګیستوزي | √ | √ | د طبیعی سرچینې مدیریت | موضوعی لیکنه |
| د ۲۰۱۷ نومبر | ناروغتیا یا علامی؟ په ۲۰۱۷ کال کې د افغانستان د ودې کوونکو تریاکو اقتصاد | ویلیام ای. بایرد | | | د طبیعی سرچینی مدیریت | د پالیسي یادښت |
| د ۲۰۱۷ دسمبر | په افغانستان کې د اروپایی ټولنې د ستونزې د غبرګون تحلیل | جونا آر. ایچاویز، قیوم سروش | | | ټولنیز ملاتړ | د پالیسي یادښت |
| د ۲۰۱۷ اکتوبر | په واقعی توګه بیساری: په هلمند کې د خوړو زون څنګه په ولایتونو کې د تریاکو د تولید د ډیروالی ملاتړ وکړ | دیوید منسفیلد | √ | √ | د طبیعی سرچینی مدیریت | موضوعی څیړنه |

| | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|
| د ۲۰۱۷ کال اګست | په افغانستان کې قضايي بيا کتنه | غزال حارس | √ | √ | اساسي قانون | موضوعي څېړنه |
| د ۲۰۱۷ کال آګست | په افغانستان کې اجرايي بيا کتنه | کاوون کاکړ | √ | √ | اساسی قانون | موضوعی څېړنه |
| د ۲۰۱۷ کال جولای | ښځې د افغانستان په کرنه کې | لينا ګانيش | | | جنسيت | موضوعی څېړنه |
| د ۲۰۱۷ کال جولای | د اوبو په برخه کې د سمونې اغیزې | اتل احمدزی | | | حکومتولي | موضوعي څېړنه |
| د ۲۰۱۷ کال جولای | په افغانستان کې ښاري حکومتولي. | ديتليف کمير | | | حکومتولي | موضوعي څېړنه |
| د ۲۰۱۷ کال جولای | د دولت د ادارو دندو ته بيا کتنه | اکسل کويتز | | | حکومتولی | موضوعي څېړنه |
| د ۲۰۱۷ جولای | په افغانستان کې د کوچيانو – بزګرانو شخړې | انتونيو جيو ستوزي | | | د طبيعی سرچينی مديريت | لنډيز |
| د ۲۰۱۷ کال جون | په افغانستان کې د حکومتولی د ارزونی چوکاټ (LGAF) | AREU | | | حکومتولی | ريپوټ |
| د ۲۰۱۷ جنوری | په افغانستان کې د معيشيت تګ کربنې: د هرات له درې کلیو څخه بیلګې | دانیل هت، ادم پین او احسان الله غفوري | | | ټولنيزه ساتنه | کاري ليکنه |
| د ۲۰۱۷ جنوري | په افغانستان کې د معيشيت تګ کربنې: د «وروسته پرمختيا» په وخت کې ژوند | جيوليا مينويا او ادم پين | | | ټولنيزه ساتنه | کاري ليکنه |
| د ۲۰۱۷ جنوری | په افغانستان کې د معيشيت تګ کربنې: د کندهار په ولايت کې چوپ تاوتريخوالی | دانيل هوټ، ادم پين او احسان الله غفوری | | | ټولينزه ساتنه | کاری ليکنه |
| د ۲۰۱۷ جنوری | زعفران: د توليد ټولينزې اړيکې | جيوليا مينويا او ادم پين | | | د طبيعی سرچينو مديريت | کاري ليکنه |
| د ۲۰۱۲ اکتوبر | د خوښت وخت: په افغانستان کې د کوکنارو ترياکو، کښت ته د پرمختيائي غبرګون را مينځ ته کول | ديويد منسفيلد، پاول فيشستين او OSDR | | | د طبيعی سرچينی مديريت | موضوعی ليکنه |
| د ۲۰۱۲ آګست | په افغانستان کې د جنسيت په اړه د ځواب ورکوونکی بودجې جوړول: کار د پرمختګ په حال کې ده | نيلول برتش او سليمان هدايت | √ | √ | د ملکی خدمتونو سمونه او حاکميت | موضوعی ليکنه |
| د ۲۰۱۲ آګست | په افغانستان کې د ملکي خدمتونو سمون: ملکی خدمتونو د سکتور وندې او دندې | سيد حشمت الله هاشمی او ګير هارد لاوت | √ | √ | د ملکی خدمتونو سمونه او حکومتولی | موضوعی ليکنه |
| د ۲۰۱۲ جولای | په افغانستان کې د کليو د شرايطو دشننې کارول: ميتوودونه او پراخ دليلونه | ادم پين | | | پاينبت لرونکې معيشيت | کاری ليکنه |

AREU

څېړنې د ښه افغانستان لپاره

ټولې خپرونې په دغه پاڼه کې د راښکته کولو لپاره www.areu.org.af لاس ته راوړی شي.

په کابل کې ددغه ادارې په دفتر کې چاپ شوې کاپیانې هم موجودې دي.

**د افغانستان د څېړنې او ارزونې اداره**

لسمه ناحیه، لومړی سړک، نوی ښار،
کابل، افغانستان

تیلفون: ۵۴۸ ۲۰۸ ۷۹۹(۰)۹۳+

برېښنالیک:publications@areu.org.af

ویب پاڼه:www.areu.org.af

ISBN 978-9936-641-07-5